
۷۸۶




۲۰۱۹



د محمد صدیق

# د تبلیغ دویمه چپله

( تر انسانیت لوړ مذهب نشته )

# لړلیک

لړلیک ........ أ
د کتاب پېژندنه ........ ج
سریزه ........ د
د تبلیغ لومړی ورځ ........ ۱
د تبلیغ دویمه ورځ ........ ۳
د تبلیغ درېیمه ورځ ........ ٥
د تبلیغ د درېیمه شپه ........ ۸
د تبلیغ څلورمه ورځ ........ ۱۱
د تبلیغ پنځمه ورځ ........ ۱٤
د تبلیغ شپږمه ورځ ........ ۱٦
د تبلیغ اوومه ورځ ........ ۱۸
د تبلیغ اتمه ورځ ........ ۲۰
د تبلیغ نهمه ورځ ........ ۲۲
د تبلیغ لسمه ورځ ........ ۲٥
د تلبیغ یوولسمه ورځ ........ ۲۷
د تلبیغ دوولسمه ورځ ........ ۳۰
د تبلیغ دیارلسمه ورځ ........ ۳۲
د تبلیغ څوارلسمه ورځ ........ ۳٥
د تبلیغ پنځلسمه ورځ ........ ۳۸
د تبلیغ شپاړسمه ورځ ........ ٤۰
د تبلیغ شپاړسمي مابنام ........ ٤۳
د تبلیغ اوه لسمه ورځ ........ ٤٦
د تبلیغ اته لسمه ورځ ........ ٤۸

د تبلیغ نولسمه ورځ ........ ۵۰
د تبلیغ شلمه ورځ ........ ۵۳
د تبلیغ یوویشتمه ورځ ........ ۵۶
د تبلیغ دوه ویشتمه ورځ ........ ۵۹
د تبلیغ درویشتمه ورځ ........ ٦۱
د تبلیغ څلورویشتمه ورځ ........ ٦٤
د تبلیغ پنځه ویشتمه ورځ ........ ٦٦
د تبلیغ شپږ ویشتمه ورځ ........ ٦۸
د تبلیغ اوه ویشتمه ورځ ........ ۷۰
د تبلیغ اته ویشتمه ورځ ........ ۷۲
د تبلیغ نهه ویشتمه ورځ ........ ۷٤
د تبلیغ دېرشمه ورځ ........ ۷۷
د تبلیغ یو دېرشمه ورځ ........ ۸۰
د تبلیغ دوه دېرشمه ورځ ........ ۸۳
د تبلیغ دري دېرشمه ورځ ........ ۸۵
د تبلیغ څلور دېرشمه ورځ ........ ۸۷
د تبلیغ پنځه دېرشمه ........ ۸۹
د تبلیغ شپږ دېرشمه ورځ ........ ۹۱
د تبلیغ اوه دېرشمه ورځ ........ ۹۳
د تبلیغ اته دېرشمه ........ ۹۵
د تبلیغ نهه دېرشمه ورځ ........ ۹۷
د تبلیغ څلوېښتمه ورځ ........ ۹۹
د تبلیغ څلوېښتمه شپه (الوداع) ........ ۱۰۱

## د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د محمد صديق د تبليغ دويمه چپله |
| ليکوال | محمد صديق |
| د فېسبوک پته | http://www.facebook.com/mohammad.sediq.af |
| د وېب پاڼې پته | http://www.mohammadsediq.com |

# سریزه

د دې کتاب پیل به د **سینوهه** کتاب له یو څو جملو څخه وکړم او هغه ویلي:

«تر هغه وخته چې انسان نوي شیان او پېښې نه وي لیدلې نو ځان بشپړ ګڼي خو له هغه وروسته چې پوه شي، د هغه پر معلوماتو او علمونو سر بېره په نړۍ کې ډېر نور علمونه او معلومات هم شته نو ځان ورته کوچنی ښکاري او همدغه وخت په خپل عیب پوهېږي. له همدې امله بې علمه او بې خبره کسان ډېر ژر مغروره کیږي، ځکه چې فکر کوي په ټولو شیانو پوهیږي او په نړۍ کې تر ده لوړ او تکړه بل څوک نشته. له همدې کبله چې ګورو یو نارینه یا ښځینه کبر لري او موږ ته په کمه ستر ګه ګوري، باید پوه شو چې هغه ډېر احمق او ناپوه دی او له دې کبله چې په څه نه پوهیږي، تجربه نه لري نو ځان تر نورو لوړ ګڼي.

ما غوښتل چې حقیقت واکمن وي او **دروغ**، **ریا** او **چل ول** له منځه ولاړ شي، خو په دې نه پوهېدم چې د انسان په ژوند کې **حقیقت** واکمنول ناشونی کار دی او هر څوک چې رښتیا وایي او غواړي په رښتینولۍ ژوند وکړي نو باید هر څه له لاسه ورکړي او زه باید ډېر نېکمرغه سړی و اوسم چې تر اوسه مې خپله شتمني ساتلې ده.

تر هغه چې انسان ژوندی دی احمق به وي او تشې وعدې او درواغ به یې غولوي، په هر وخت او په پړاو کې د وخت له غوښتنو سره سم به هغه ته درواغ ویل کېږي او هغه به هم په شور او ولولې سره دغه درواغ او چټیات مني. په درواغو او چټي وعدو او هغه زیري باندې باور کول چې هېڅکله به عملي نشي، د انسان له ختې سره اخښل شوې ده. انسان له حقیقي پېښو څخه افسانې ته ډېره ترجېح ورکوي.»


دا هغه خبرې دي چې سینوهه زرګونه کلونه مخکې کړي او د نني عصر سره بلکل صدق کوي.

د انسان په ژوند کې **پوهه** تر ټولو ستره تراژیدي ده، کله چې د انسان د **مذهب** په نامه سوداګری، د **ملګرتیا** په نامه ګټپالنې، د علم او د **سیاست** په نامه په **مداریتوب** باندې سرخلاص شي نو د دردونو او کړاوونو اور یې په زړګي بل شي، نه قاطع په څلورو روان اکثریت پوهولای شي او نه هم قاطع په خبره پوه اقلیت په اکثریت بدلولای شي. په داسې چاپیریال کې د آرام ژوند لپاره مطالعه او ژور فکر قاتل زهر دي.

تېر کال مې له شېخ الحدیث او عرفان سره وعده کړې وه چې کال ته به بیا له خیره ستاسې سره یوه چېله لګوم او دا دی ستاسې ملګرو د دوعاګانو له برکته سږ کال یو ځل بیا وتوانېدم چې د الله او د رسول په لاره کې څلوېښت ورځې ولګوم او د شېخ الحدیث د احادیث په ذریعه خپل او ستاسې دوستانو ایمانونه تازه کړم، هیله ده چې تر پایه ملتیا راسره وکړئ او همداراز دا کتاب تر خپلې وسې درسره شریک کړئ.

**جزاک الله خیر**

# د تبلیغ لومړی ورځ



پرون موږ له خپل ټاکلي وخت څخه یوه ورځ مخکې تبلیغ پیل کړ او شیخ الحدیث صیب د ماښام له لمانځه وروسته راپاڅېد تر څو د ایمان او یقین خبرې وکړي، بیا یې زیاته کړه چې موږ ټول د الله پاک په لاره کې راوتلي یوو او دا چې مخ په وړاندې به زموږ سره په تبلیغ کې څه پېښیږي نو یوازې الله پاک پوهېږي.

شیخ صیب زیاته کړه وېل مومنانو د غیب علم یوازې او یوازې له الله پاک سره دی او **نبي کریم ص فرمایلي چې د علم غیب پنځه کلی دي چې یوازې الله پاک ته مالومې دي** او بیا یې دغه مبارک حدیث راته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «مِفْتَاحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ اللَّهُ لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِي غَدٍ، وَلاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِي الأَرْحَامِ، وَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَمَا يَدْرِي أَحَدٌ مَتَى يَجِيءُ الْمَطَرُ»**

**ژباړه:** له **ابن عمر رض** څخه روایت دی چې له رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي **د غیبي علم کونجۍ (کیلۍ ګاني) پنځه دي** چې پرته له الله تعالی بل چاته نه دي مالومې. هېڅوک نه پوهېږي چې سبا به څه پېښیږي، **هېڅوک نه پوهېږي چې د مور په رحم (ګېډه) کې څه دي**. هېڅوک نه پوهېږي چې سبا به څه لاسته راوړي (غذا)، هېڅوک نه پوهېږي چې په کوم ځای کې به مري او **هېڅوک نه پوهېږي چې څه وخت به باران کېږي.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب الاستسقاء - باب لاَ يَدْرِي مَتَى يَجِيءُ الْمَطَرُ إِلاَّ اللَّهُ) حدیث ۱۰۳۹
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۱۵ کتاب ۳۴ حدیث
- دریم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۲ ټوک ۱۷ کتاب ۱۴۹ حدیث

دا ځل زموږ سره د **سې روزې** لپاره د طب پوهنځۍ یو شاګرد **(عاطف پټېل)** هم ملګری شوی هغه چې دا خبرې واورېدې نو وېل شېخ الحدیث صیب دا خبره زه نه منم چې څوک نه پوهېږيي چې د مور په رحم کې څه دي.

هغه وېل **نن سبا ساینس حتا په سپرم کې نارینه او ښځینه کروموزوم درته مالوملای شي مخکې له دې چې سپرم (مني) د ښځې رحم ته داخل شي** او بل د مور په ګېډه کې د ماشوم جنسیت تشخیصول خو نن سبا یوه وړه او عادي خبره ده، او همداراز **د میټورولوجي (هوا پېژندنې علم) تاته د راتلونکو لسو ورځو هوا درښودلی شي چې څه به کیږي.**

**شیخ الحدیث** یوم دم په غوسه شو وېل وباسئ **دا ګستاخ څوک دی چې د رسول الله مبارک له خبرو څخه انکار کوي؟**


عاطف ووتلو او زه هم ورپسې ورغلم ما وېل هسې نه چې عاطف له تبلیغ څخه ونه تښتي یا یې څوک ونه وهي.

د شېخ الحدیث صیب تقریر لار روان وو خو زه د عاطف خدای وهلي په وجه ترې بې برخې شوم.

عاطف ته مې ووېل لږ ګوزاره کوه او د شېخ الحدیث په خبرو کې مه ور لوېږه **خیر که یې ځینې خبرې تاته د منلو وړ نه ښکارېدې.**

نور زه ترې ولاړم او د **سورة توبې** تلاوت مې شروع کړ.

# د تبلیغ دویمه ورځ




د ماښام له اذان وروسته **عرفان** پاځېدلو او اعلان یې وکړ چې ملګرو تاسې له لمانځه وروسته پر خپلو ځایونو کې تشریف ولرئ ځکه چې دلته به د ایمان او یقین خبرې کېږي، وېل زموږ ټولو کامیابي په دین کې ده او الله پاک به دونیاوي او اوخروي کامیابي ستاسې او زموږ ټولو په نصیب کړي.

شېخ الحدیث چې را پاځېدلو نو له درود شریف ویلو وروسته یې وېل ګورئ مومنانو! الله پاک موږ څومره له **حقیرو اوبو** څخه خلق کړي یو خو سربېره پر دې بیا هم الله پاک خپل ټول نعمتونه زموږ ګناهکارو بندګانو په خدمت کې راکړي خو موږ بیا هم ناشکري کوو.

شېخ وېل کله چې الله پاک د خپلو بندګانو د پیدا کولو اراده وکړي نو **د هرې مور لپاره د هغه په رحم کې یوه ملایکه مقرره کړي** تر څو الله پاک ته د هرې مرحلې مفصل راپور ورکړي او بیا یې دغه مبارک حدیث ټولو ته بیان کړ او زموږ ایمانونه یې پرې تازه کړل:

> 📖 حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ـ رضى الله عنه ـ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «وَكَّلَ اللَّهُ بِالرَّحِمِ مَلَكًا فَيَقُولُ أَىْ رَبِّ نُطْفَةٌ، أَىْ رَبِّ عَلَقَةٌ، أَىْ رَبِّ مُضْغَةٌ. فَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَقْضِيَ خَلْقَهَا قَالَ أَىْ رَبِّ ذَكَرٌ أَمْ أُنْثَى أَشَقِيٌّ أَمْ سَعِيدٌ فَمَا الرِّزْقُ فَمَا الأَجَلُ فَيُكْتَبُ كَذَلِكَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ»

**ژباړه:** له **حضرت انس رض** څخه روایت دی چې له رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي الله ج **یوه فرښته (ملایکه) د رحم لپاره ټاکي** او وايي اې ربه! **(دا) نطفه (د مني يو څاڅکی) دی**، اې ربه! **(اوس) علقه (دويني ټوټه) ده**، اې ربه! **(اوس) مضغة (د غوښې وړه بوټۍ) ده**، او بیا چې کله الله پاک وغواړي خپل خلقت بشپړ (تکمیل) کړي نو فرښته وايي چې اې ربه! **ايا دا به نارینه او که ښځینه وي؟ بدبخت (بدکار) او يو نیکبخت (نیکو کاره) به وي؟** رزق **به یې څومره وي؟ عمر به یې څومره وي؟ فرښته دا ټول څه هغه خت لیکي چې مخلوق (ماشوم) لاهم د مور په رحم (خیټه) کې وي.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب القدر - كتاب أحاديث الأنبياء) حدیث ۶۵۹۵ او حدیث ۳۳۳۳
- دویم ماخذ: صحیح البخاري (باب فِي الْقَدَرِ) ۸۲ کتاب ۲ حدیث
- دریم ماخذ: صحیح مسلم (بَاب كَيْفِيَّةِ خَلْقِ الْآدَمِيِّ فِي بَطْنِ أُمِّهِ وَكِتَابَةِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقَاوَتِهِ وَسَعَادَتِهِ) حدیث ۲۶۴۶
- څلورم ماخذ: صحیح مسلم انگلیسي (کتاب القدر) ۳۳ کتاب ۶۳۹۷

مور ټولو وویل **سبحان الله!** ځار د الله پاک له قدرتونو شم. په دې وخت کې زما تر څنگ ناست **عاطف پټېل** را پاڅېد وېل شیخ **صیب د ماشوم جنسیت خو د نارینه د سپرمو له کروموزومونو څخه تشخیصیږي** نو ملایکې خو باید د نارینه د ارضا کېدو او د تخمې د القاح کېدو په وخت کې الله پاک ته خبر ورکړي چې د ماشوم جنسیت څه دی او ما خو پرون هم تاسې ته عرض وکړ چې **ساینس کولای شي چې د نارینه او ښځینه کروموزوم په سپرم کې درته مالوم کړي مخکې له دې چې د ښځینه رحم ته ننوځي نو دا ملایکې ولې دومره وروسته د ماشوم د جنسیت خبرې کوي او بیا دوی د ښځو په رحم کې څه کوي؟**


**وېل ايا دوی په ښځو اضافه بوج نه راوړي چې هلته په هغه تنگ ځای کې کراري ناستې وي او بل هېڅ کار نه کوي؟ وېل الله پاک ته خو دا هرڅه پخپله مالوم دي نو له ملایکو بیا ولې راپورونه غواړي؟**

شیخ وېل **گوره گوستاخه! ستا عقیده خو مزخرفو ساینسي علوموم در خرابه کړې نو ولې بار بار د رسول الله مبارک د احادیثو په اړه پوښتنې را ولاړوې؟**

ما **عاطف** ته اشاره وکړه ما وېل نور وځه چې کیسه خرابیږي، هغه چې ووت ورپسې ورغلم **ما وېل د خدای نیکبخته که تا چیرې زموږ په وطن کې دا ډول پوښتنې کړې وی نو د فرخندې او مشال کیسه یې درسره کوله، عاطف وېل هغه څوک دي؟**

ما بیا د دواړو کیسه ورته وکړه او سرې مې لړ و ډار کړ او بیا عاطف لاړ او یو دوه رکعته شکرانه نفل یې ادا کړل چې له وهلو او ډبولو بچ شو، زه بېرته د شیخ الحدیث تقریر ته ورغلم او ورته غوږ شوم.

## د تبلیغ درېیمه ورځ




نن سهار د فجر له لمانځه څخه وروسته د ایمان او یقین خبرې وشوې نو شېخ الحدیث وېل آیا تاسې **د قران عظیم الشان او مبارکو احادیثو له معجزو څخه خبر یاست؟**

**مورږ ټولو ووېل نه!** شېخ وېل **د بیولوژي د علم په اړه نیږدې ۱۴۰۰ کاله مخکې رسول الله ص هغه څه بیان کړي چې کفري هېوادونه یې ایله اوس اوس په کشف کولو باندې بریالي شول** او بیا یې د مثال په توګه دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> 🕮 حَدَّثَنَا آدَمُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ وَهْبٍ، سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ ـ رضى الله عنه ـ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «إِنَّ خَلْقَ أَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا وَأَرْبَعِينَ لَيْلَةً، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَهُ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَهُ، ثُمَّ يُبْعَثُ إِلَيْهِ الْمَلَكُ فَيُؤْذَنُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ، فَيَكْتُبُ رِزْقَهُ وَأَجَلَهُ وَعَمَلَهُ وَشَقِيٌّ أَمْ سَعِيدٌ ثُمَّ يَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ.»

📖 **ژباړه:** له **حضرت عبدالله بن مسعود رض** څخه روایت دی رسول الله ص فرمايلي: له تاسې څخه د هره یوه خلقت د انسان له **(یعنې له نطفې - د مني یو څاڅکی)** څخه پیل کیږي چې د مور په ګېډه کې تر **څلويښتو ورځو او څلويښتو شپو** پورې جمعه کیږي. بیا هغه **علقه (د وینې ټوټه)** شي په همدغومره زمان کې **(معنا ۴۰ شپې او ۴۰ ورځې)** بیا **مضغة (د غوښې وړه بوټۍ)** شي په همدغومره موده کې **(معنا ۴۰ شپې او ۴۰ ورځې).** بیا له هغه فرښته ور ولېږل کیږي (د الله له لوري) او هغه ته د **څلورو شیانو** حکم کیږي. تر څو **د هغه روزي، د هغه مرګ، د هغه عمل** چې **نیکبخته** او که **بدبخته** به وي ولیکي. بیا په هغه کې ساه (روح) پو کیږي (را ژوندی کیږي).

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب التوحید - باب قَوْلِهِ تَعَالَى) حدیث ۷۴۵۴
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۹۷ کتاب ۸۰ حدیث
- دریم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۹ ټوک ۹۳ کتاب ۵۴۶ حدیث
- څلورم ماخذ: صحیح البخاري (کتاب بدء الخلق - باب ذِكْرِ الْمَلاَئِكَةِ) حدیث ۳۲۰۸
- پنځم ماخذ: صحیح مسلم (کتاب القدر - بَاب كَيْفِيَّةِ خَلْقِ الْآدَمِيِّ فِي بَطْنِ أُمِّهِ وَكِتَابَةِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقَاوَتِهِ وَسَعَادَتِهِ) حدیث ۲۶۴۳

ما او عرفان دواړو ووېل **سبحان الله!** په دې وخت کې خدای وهلی عاطف بیا را جګ شو وېل شیخ صیب ما چې حساب ورته وکړ نو **جنین ۴۰** ورځې او شپې **د سپرم د څاڅکي** په توګه تېروي، ۴۰ ورځې او شپې **د علقې (د وینې ټوټې)** په توګه تېروي او ۴۰ ورځې او شپې بیا **د مضغې (د غوښې وړه بوټۍ)** په توګه چې دا شوې ټول ټال ۱۲۰ ورځې او ۱۲۰ شپې خو ځه ستا په خاطر به شپه او ورځ په یوه حساب کړم چې په دې حساب ټول ۱۲۰ **ورځې** شي مګر په حقیقت کې ساینس موږ ته ویلي چې په ۵۶ **ورځو** کې **جنین اساساً بشپړ وي** (مطلب یو کوچنی انسان چې د بدن ټول غړي یې ځای پر ځای او انساج یې جوړ شوي یا رسېدلي وي **نو اوس موږ ستا ومنو او که ساینس؟**

بل دا چې **روح خو حتا د سپرمو په هګیو کې هم وي او کله چې د جنین په حالت کې هم وي نو روح پکښې کې وي ځکه چې هغه یو ژوندی جسم وي نو څنګه په یوه ژوندي ژوي کې ملایکې بیا له سره روح ور پو کوي؟**

شیخ وېل زه خو **د دغه ګستاخ او بدبخته عاطف پټېل** له لاسه د تبلیغ په خوند هېڅ پوه نه شوم او **په هر بیان کې چېلکونه را اچوي.**

شیخ وېل که چېرې دا شخص نور زما په څنګ کې موجود وي نو زه نور بیان ته نه ولاړېږم، تاسې باید یا دغه شخص وباسئ او یا هم زه نور له تبلیغ څخه ځم.

اخر مو شېخ بېرته را ټينگ کړ او عاطف ته مو وويل چې نور وځه له دې ځايه.

شېخ د اشراق د لمانځه تر وخت خپل بيان جاري وساتلو او له هغه وروسته ما او عرفان د اشراق لمونځ ادا کړ او بيا يوه سترگه ويده شوو.

**فکر کوم عاطف پټېل له جومات څخه بهر ووتلو او بېرته رانغئ، خدای دې وکړي چې تبنتېدلی نه وي او بېرته راشي.**

## د تبلیغ د درېیمه شپه



نن ماښام له اذان وروسته د اعلان لپاره زه را پاڅېدم ما وېل مومنانو که چېرې تاسې له لمانځه څخه وروسته د شېخ الحدیث صیب د ایمان او یقین په اړه تقریر ته پاتې شئ نو الله پاک به مو د دین او دونیا ثوابونه در په برخه کړي.

کله چې لمونځونه مو ادا کړل نو شېخ الحدیث لومړی شاوخوا وکتل، **زما په غالب گومان کتل یې چې عاطف پټېل هم شتون لري او کنه**، چې کله یې وکتل هغه نشته نو ویل یې چې **زه به تاسې ته نن د یوې بلې ساینسي موضوع په اړه مالومات درکړم کوم چې رسول الله مبارک ۱۴۰۰ کاله مخکې موږ ته بیان کړي او کوپار یې په اوسنیو کلونو کې په علت پوه شول.**

ما او عرفان یو بل ته حیران حیران وکتل چې دا به کومه موضوع وي؟

نو په دې وخت کې شېخ صیب زیاته کړه چې **آیا تاسې پوهېږئ چې ماشومان ولې اکثره اوقات خپلو پلرونو او یا هم خپلو میندو ته ورته شوي وي؟**

**موږ ټولو ووېل نه شېخ الحدیث صیب نه پوهېږو.**

بیا یې ویل **که چېرې د جماع په حالت کې نارینه لومړی ارضا شي (مني یې خارج شي) نو ماشوم پلار ته ورته کیږي او که یې مور لومړی ارضا شي نو ماشوم خپلې مور ته ورته کیږي.**

هغه وېل دا خبرې حضرت جبرائیل ع د الهام په شکل د رسول الله ص په زړه کې واچولې او ویل یې **حضرت جبرائیل ع له هغو ملایکو څخه دی چې د یهودانو سخت دوښمن دی** او بیا یې دغه مبارک حدیث بیان کړ:

**📖 حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ، أَخْبَرَنَا الْفَزَارِيُّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ بَلَغَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَلاَمٍ مَقْدَمُ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، فَأَتَاهُ، فَقَالَ إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ ثَلاَثٍ لاَ يَعْلَمُهُنَّ إِلاَّ نَبِيٌّ، «قَالَ مَا» أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ وَمَا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَمِنْ أَىِّ شَىْءٍ يَنْزِعُ الْوَلَدُ إِلَى أَبِيهِ وَمِنْ أَىِّ شَىْءٍ يَنْزِعُ إِلَى أَخْوَالِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «خَبَّرَنِي بِهِنَّ آنِفًا جِبْرِيلُ.» قَالَ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ ذَاكَ عَدُوُّ الْيَهُودِ مِنَ الْمَلاَئِكَةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ. وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ. وَ أَمَّا الشَّبَهُ فِي الْوَلَدِ فَإِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَشِيَ الْمَرْأَةَ فَسَبَقَهَا مَاؤُهُ كَانَ الشَّبَهُ لَهُ، وَإِذَا سَبَقَ مَاؤُهَا كَانَ الشَّبَهُ لَهَا.**

📖 **ژباړه:** له **حضرت انس رض** څخه روایت دی چې **حضرت عبدالله بن سلام رض** چې د رسول الله د مدینې له راتګ څخه خبر شو نو د رسول الله حضور ته راغئ او ویې ویل: زه ستا څخه د **دریو شیانو** په اړه پوښتنه کوم چې پرته له رسول الله ص بل هېڅ چاته نه دي مالوم. **د قیامت تر ټولو لومړی علامه (نښه) څه ده؟ هغه کوم خواړه دي چې تر ټولو لومړی به جنتیاتو ته ورکول کیږي؟ او څه وجه ده چې بچیان له خپلو پلرونو سره ورته والی (شباهت) لري؟** رسول الله ص وفرمایل **جبرائیل ع** همدا اوس ماته راغئ او خبر یې راکړ (معنا ځوابونه یې راکړل). په دې اړه حضرت عبدالله رض وویل **له ملایکو څخه حضرت جبرائیل ع د یهودانو دوښمن دی**. رسول الله ص وفرمایل **د قیامت له علامو (نښانونو) څخه یوه علامه به د اور په شکل را ظاره کیږي چې خلک به له مشرق څخه د مغرب په لوري زغلوي. د جنتیانو لومړی خواړه به د نهنګ (لوی ماهي) جیګر وي.** او تر کومه چې د ماشومانو د شباهت خبره ده نو **که چېرې یو شخص له خپلې مېرمنې سره د کوروالي (جماع) په حالت کې لومړی خلاص (ارضا یا په بله معنا مني یې خارج شي) شي نو اولاد به یې پلار ته ورته (شباهت به ورسره لري) وي او که چېرې مېرمن لومړی خلاصه (ارضا) شي نو ماشوم به یې مور ته ورته وي.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (كتاب أحاديث الأنبياء - بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِهِ) حديث ۳۳۲۹
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦۰ کتاب ۴ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۴ ټوک ۵۵ کتاب ۵۴٦ حدیث

شېخ لا حدیث مکمل کړی نه وو چې **عاطف پټېل** خدای وهلی راغئ او زما تر څنګ کښېناست، شېخ د حدیث ترجمې ته دوام ورکړ او چې کله ترجمه ختمه شوه موږ ټولو **سبحان الله** وویل.

عرفان په لومړي ځل غږ وکړ ویل شېخ صیب **زه خو د کوروالي په وخت کې همېشه له خپلې مېرمنې څخه مخکې ارضا کېږم خو بچي مې بیا هم ټول مېرمنې ته ورته شوي چې د دې علت به څه وي؟**

شېخ ویل **علت يې ستا عقیده ده چې خرابه شوې.**

په دې وخت کې **عاطف پټېل** ویل شېخ صیب په ډېرې بښنې سره زه په دې مورد یو څه ویل غواړم:

- **لومړی** دا چې د **جنېټیک (د وراثت علم)** وايي چې ماشوم **نیم جېن (د بدن په حجرو کې یو ساختمان چې د مور او پلار د خاصیتونو انتقال ور په غاړه دی) له خپل پلار او نیم له خپلې مور څخه په میراث وړي او د هغه شکل د ماشوم د مور او پلار د ارضا کېدو له ترتیب سره چې کوم یو لومړی خلاصیږي هېڅ کوم تړاو نه لري.**
- **دویمه خبره دا چې د نړی له شرق څخه تر غربه خو ډېرې دښتې او اوبه پرتې دي نو دښتې او اوبه څرنګه اور اخلي؟**
- **درېیم دا جبرائیل ع سلام ولې له یهودانو سره دوښمني کوي؟**
- **وروستی خبره دا چې په جنت کې دا نهنګ له کومه کیږي چې الله پاک يې جنتیانو ته ځیګر ورکوي؟**

شېخ ویل **نور بیخي بس!** نوره زما د صبر کاسه چپه شوه او همدا نن به تاسې ټول پرېکړه کوئ چې یا به عاطف پټېل دلته پاتې کېږي او یا زه او نور هېڅ امکان نه لري چې دواړه تبلیغ ته یو ځای دوام ورکړلی شو.

همغه وو چې موږ **عاطف پټېل ته عذر او زارۍ وکړې او نور مو سرې رخصت کړ تر څو شېخ الحدیث د چېلې لپاره پاتې شي.**

عاطف په تلو تلو کې شېخ الحدیث ته ویل **همدا مې اخري تبلیغ وو بیا ولا که په ټول عمر ستا درواغجن سره ولاړ شم او سرې همداسې په خپله مخه ولاړ.**

په لومړۍ ورځ يې ما د ټیلیفون شمېره له ځان سره نوټ کړې وه ما ویل زه به يې بیا په کراره سرې پوه کړم او که ژوند وو نو بلې **سې روزې** ته به يې را وغواړم چې کله د شېخ او عاطف دواړو غوسې لړ سړې شي.

# د تبلیغ څلورمه ورځ




پرون مابنام د شیخ الحدیث او د **عاطف پټېل** تر لانجې وروسته شیخ الحدیث سخت په غوسه وو او د هغه کور هم همدلته نیږې علاقه کې دی نو سړی کور ته لاړ، د ماخوستن لمانځه ته شیخ بېرته ځان جومات ته را ورسولو خو لا یې هم غوسه په څېره کې له ورایه ښکارېده.

- عرفان ماته پټ ووېل **لکه چې شیخ صیب بیا په کور کې جنګ کړی او مېرمن یې وهلې.**

- زما طاقت ونشو نو له شیخ الحدیث څخه مې وپوښتل ما وېل مابنام خو تاسې د غوسې په حالت کې کور ته ولاړئ، **په کور کې خو به مو له چا سره جنګ نه وي کړی چې تر اوسه په غوسه یاست؟**

- **ما وېل په کور کې خو به دې ورېنداره نه وي وهلې څکه ډېر په غوسه ووتې؟**

- وېل صدیقه! **هیڅ وخت له یوه نارینه څخه دا پوښتنه مه کوه چې ولې دې خپله مېرمن وهلې؟**

- **ما وېل ولې شیخ صیب ایا پوښتنه ګناه ده؟**

وېل بس دا د رسول الله ص امر دی او بیا یې دغه مبارک حدیث راته بیان کړ.

**📖 حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الأَوْدِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُسْلِيِّ، عَنِ الأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لاَ يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَا ضَرَبَ امْرَأَتَهُ»**

**ژباړه:** له **حضرت عمر بن خطاب** رض څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي «**له یو شخص څخه باید ونه پوښتل شي چې ولې یې خپله مېرمن وهلې (ډبولې)**»

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب النكاح - باب فِي ضَرْبِ النِّسَاءِ) حديث ۲۱۴۷
- دویم ماخذ: سنن ابي داود ۱۱ کتاب ۲۱۴۲ حدیث
- درېیم ماخذ: سنن ابن ماجه (کتاب النکاح) انګلیسي ۳ ټوک ۹ کتاب ۱۹۸۶ حدیث



نن سهار له بیان وروسته شیخ زما خوا ته راغئ وېل ګوره صدیقه! **موږ ښځو ته ډېر احترام لرو او زه دا نه وایم چې خلک دې خپلې ښځې ووهي، خو د مجبورۍ په حالت کې تاسې کولای شئ خپلې ښځې ووهئ مګر داسې نه لکه د مېنځو په څېر چې بیا د ورځې په پای کې له وهلو وروسته کوروالی (جماع) هم ورسره وکړئ.**

**ما وېل شیخ صیب دا څه وایې؟**

**ما وېل آیا مینځې انسانانې او د خدای بنده ګانې نه دي؟**

**ایا دا مینځې یوازې د وهلو او کوروالي لپاره وې چې تاسې داسې خبره کوئ؟**

**وېل هو! ځکه هغوی د کوپارو ملکیت دی** بیا یې د ښځو د وهلو په اړه د رسول الله مبارک دغه حدیث شریف راته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لاَ يَجْلِدُ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ، ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عبدالله بن زمعه** څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي **«له تاسې څخه هېڅ یو باید خپله ښځه (مېرمن) لکه د غلام په څېر په قمچینه ونه وهي او بیا د ورځې په پای کې جنسي اړیکه ورسره ونیسي.»**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب النکاح - باب مَا يُكْرَهُ مِنْ ضَرْبِ النِّسَاءِ وَقَوْلِهِ «وَاضْرِبُوهُنَّ» ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ) حدیث ۵۲۰۴
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦٧ کتاب ۱۳۸ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۷ ټوک ٦٢ کتاب ۱۳۲ حدیث

د شیخ صیب له خبرو وروسته لږ دباندې ووتم او وروسته بیا بېرته راغلم او د **سورة النساء** په تلاوت مې شروع وکړه.

## د تبلیغ پنځمه ورځ



پرون مازدیگر **زه**، **عرفان** او **شیخ الحدیث** د ځو کسانو سره یو ځای د گشت لپاره ووتلو او زموږ سره یو بل کس هم شریک شو چې نوم یې **احمد قریشي** وو، ډېر عجیبه او گډوډ حرکتونه یې کول چې له حرکتونو څخه یې نورمال انسان نه ښکاره کېدو.

موږ د یوه **هندو** کور ته د تبلیغ لپاره ورغلو، یو ساعت مو هغه ته د **ایمان** او **یقین** خبرې وکړې خو چندان اثر یې پر هندو ونه کړ او داسې ښکارېدو چې هندو کافر زموږ خبرې په یوه غوږ اورېدې او تر بل غوږ یې ایستلې.

شیخ وېل ځئ نور ځو چې د ماښام لمنځونه رانه قضا نشي.

کله چې جومات ته نیږدې کېدو نو **احمد قریشي** عرفان ته وایې دلته به لږ اوبه پیدا نشي چې غسل ورباندې وکړم؟

- **عرفان وېل په دې مازدیگر کې غسل؟** وېل تا خو زما سره یو ځای د **ماسپښین** او **مازدیگر** لمنځونه هم په جمه وکړل نو ته بیا څه وخت جنوب شوې چې د غسل خبرې کوې؟

- **احمد وېل نه پوهېږم خو داسې احساس کوم چې زه جنوب یم او باید غسل وکړم.**

شیخ الحدیث چې دا خبرې واریدې نو وېل په **احمد قریشي** باندې کومه چا جادو یا سحر کړی او **کفارو تل کوښښ کړی چې په مسلمانانو باندې جادو وکړي او حتا په رسول الله مبارک هم څو کرته جادو شوې وه** او بیا یې د دې خبرې د اثبات لپاره دغه مبارک حدیث شریف موږ ته بیان کړ:

📖 **حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ، يَقُولُ أَوَّلُ مَنْ حَدَّثَنَا بِهِ ابْنُ جُرَيْجٍ، يَقُولُ حَدَّثَنِي آلُ، عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ، فَسَأَلْتُ هِشَامًا عَنْهُ فَحَدَّثَنَا عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ ـ رضى الله عنها ـ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «سُحِرَ حَتَّى كَانَ يَرَى أَنَّهُ يَأْتِي النِّسَاءَ وَلاَ يَأْتِيهِنَّ»**

📖 **ژباړه:** له **حضرت عایشې رض** څخه روایت دی چې په رسول الله (صلی الله علیه و سلم) باندې **جادو (سحر)** شوی وو او **هغه به داسې فکر کولو چې له خپلو مېرمنو (ښځو) سره یې جنسي اړیکې نیولې په داسې حال کې چې هغه به دا کار نه وو کړی.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب الطب - باب هَلْ يَسْتَخْرِجُ السِّحْرَ) حدیث ۵۷٦۵
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦٧ کتاب ٧٩ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ٧ ټوک ٧١ کتاب ٦٦٠ حدیث

بیا شیخ الحدیث درې ځله **څلور قل** او **آیت الکرسي** په احمد باندې چوف کړل او شیخ د اوداسه تازه کولو لپاره تشناب ته لاړ، زه او عرفان جومات ننوتلو.

# د تبلیغ شپږمه ورځ



پرون مابنام چې کله لمنځونه ادا شول او **د شېخ الحدیث په بیان مو ایمانونه په جوش او خروش راغلل** نو له بیان وروسته عرفان وپوښتل وېل شېخ صیب زه نه پوهېږم ولې په ټولو راویانو کې زما د **ام المومنین حضرت عایشې رض** روایت شوي احادیث ډېر خوښیږي او بل **ولې هغه په رسول الله ص تر خپلو ټولو مېرمنو ډېره ګرانه وه؟**

شېخ وېل **د دې څو لاملونه دي** چې زه به یې درته واضح کړم:

- **حضرت بي بي عایشه رض د رسول الله هغه مېرمن وه چې تر بلې هرې یوې مېرمنې څخه یې زیات حدیثونه روایت کړي او د احادیثو یوه ستره مجموعه (۲۲۱۰ حدیثونه) د عایشې رض له برکته لرو.**
- **دویمه دا چې بي بي عایشه رض د رسول الله ص تر ټولو مېرمنو کوچنۍ وه او له رسول الله مبارک سره له شپږ ٦ کلنۍ یو ځای اوسېدلې وه او چې کله رسول الله مبارک وفات شو نو بي بي عایشه ۱۸ کلنه وه نو کوچنۍ مېرمنې تل پر خلکو ګرانې وي.**
- **حضرت بي بي عایشه رض د رسول الله ص هغه مېرمن وه چې کله به رسول الله له هغې سره په بستره کې شو نو پر ده مبارک به وحیې را نازلېدې او دا کار له بلې یوې مېرمنې سره هم نه کېدو.**

شیخ وېل **که چېرې حضرت بي بي عایشه رض نه وی نو ښایي موږ به اوسنی قران کریم هم نه درلود او یا به نیمګړی وو** او بیا یې وروسته دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ كَانَ النَّاسُ يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَاجْتَمَعَ صَوَاحِبِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ، فَقُلْنَ يَا أُمَّ سَلَمَةَ، وَاللَّهِ إِنَّ النَّاسَ يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ، وَإِنَّا نُرِيدُ الْخَيْرَ كَمَا تُرِيدُهُ عَائِشَةُ، فَمُرِي رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَأْمُرَ النَّاسَ أَنْ يُهْدُوا إِلَيْهِ حَيْثُ مَا كَانَ أَوْ حَيْثُ مَا دَارَ، قَالَتْ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ أُمُّ سَلَمَةَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَتْ فَأَعْرَضَ عَنِّي، فَلَمَّا عَادَ إِلَىَّ ذَكَرْتُ لَهُ ذَاكَ فَأَعْرَضَ عَنِّي، فَلَمَّا كَانَ فِي الثَّالِثَةِ ذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ «يَا أُمَّ سَلَمَةَ لاَ تُؤْذِينِي فِي عَائِشَةَ، فَإِنَّهُ وَاللَّهِ مَا نَزَلَ عَلَىَّ الْوَحْىُ وَأَنَا فِي لِحَافِ امْرَأَةٍ مِنْكُنَّ غَيْرِهَا»

**ژباړه: د هشام له پلار** څخه روایت دی خلکو به د **حضرت عایشې رضی الله عنه** د نوبت په ورځ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ډالۍ استولې. حضرت عایشې رضی الله عنه وفرمایل: زما ملګرې (یعنی د پیغمبر نورې میرمنې) د **ام سلمه** په کور کې راغونډې شوې وې او ویې فرمایل: اې ام سلمه! په الله قسم! **خلکو د عایشې د نوبت په ورځ هغه ته ډالۍ استولې او زموږ هم ډالۍ (یعنې تحفې وغیره) خوښیږي لکه څرنګه چې د عایشې خوښیږي.** تاسې باید رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وواياست چې خلکو ته ووایي چې خپلې تحفې هغه وخت هم را ولېږي کله چې د هرې یوې بلې نوبت وي (معنا د نورو په نوبت کې هم). **ام سلمه** دغه خبره رسول الله ته وکړه او رسول الله مبارک خپل مخ ورڅخه وګرځولو او چې کله بېرته د ام سلمه خوا ته راغئ نو هغې دا خبره بیا ورته تکرار کړه او رسول الله بیا خپل مخ ورڅخه وګرځولو، ام سلمه په دریم ځل بیا همدا خبره ورته تکرار کړه نو رسول الله مبارک وفرمایل: او **ام سلمه! عایشې ته په زیان رسولو ما مه ځوروه** (معنا حضرت عایشې ته په زیان اړولو زه ځورېږم) **په الله قسم چې پر ما هېڅکله هم وحیې نه ده نازله شوې چې کله زه تاسې (هرې یوې مېرمنې) سره په کمپله (برستن) کې وم مګر دا چې کله له حضرت عایشې رض سره وم.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث (كتاب فضائل أصحاب النبى - باب فَضْلِ عَائِشَةَ رضى الله عنها) ۳۷۷۵
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦٢ کتاب ۱۲۲ حدیث
- دریم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۵ ټوک ۵۷ کتاب ۱۱۹ حدیث
- ورته روایت په سنن نسایي (كتاب عشرة النساء - باب حُبِّ الرَّجُلِ بَعْضَ نِسَائِهِ أَكْثَرَ مِنْ بَعْضٍ) ۳۹۵۰ حدیث کې هم راغلی

**له دې خبرو اورېدو سره د عرفان تر څنګ زما ایمان هم سخت په جوش راغئ او بې اختیاره د سبحان الله ناره مې له خولې ووته** او بیا لاړم په **مسنونو اذکارو** مې شروع وکړه.

## د تبلیغ اوومه ورځ



پرون ماښام شیخ الحدیث د **اطاعت کوونکو مېرمنو** په اړه بیان کولو او ویل یې چې مېرمنې تل باید د خپلو خاوندانو فرمان برداري وي او **خاوند چې هر امر دوی ته کوي نو مېرمنې یې باید پرته له دلیل او چون او چرا خبره ومني او عملي یې کړي.**

عرفان وېل شیخ صیب **زموږ د مېرمنو چې کله تبیت خراب وي او موږ د یوه کار امر پرې وکړو نو په هغه صورت کې هم باید دوی زموږ امر پر ځای کړي؟**

شیخ وېل **هو! مېرمنې باید په هر حال کې د خپلو خاوندانو اوامر پر ځای کړي کنه ملایکې به لعنتونه پرې ووایي** او بیا یې دغه مبارک حدیث موږ ټولو ته بیان کړ:

📖 **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ أَنْ تَجِيءَ لَعَنَتْهَا الْمَلاَئِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ»**

📖 **ژباړه:** له **حضرت ابو هریرة** رض څخه روایت دی چې رسول الله ص فرمایلي **که چېرې یو شخص خپله مېرمن را وغواړي چې ورسره ویده شي او مېرمن یې انکار وکړي نو ملایکې به تر سهاره په هغه مېرمن لعنتونه وایي.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب النکاح - باب إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ مُهَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا) حدیث ۵۱۹۳
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦٧ کتاب ١٢٧ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ٧ ټوک ٦٢ کتاب ١٢١ حدیث
- څلورم ماخذ: صحیح المسلم ١٦ کتاب ١٤١ حدیث

د **صحیح مسلم په (کتاب النکاح - باب تَحْرِيمِ امْتِنَاعِهَا مِنْ فِرَاشِ زَوْجِهَا) حدیث ۱۴۳٦** کې راغلي چې **ملایکې به تر هغه په دې مېرمن لعنتونه وایي تر هغو چې بېرته د خپل خاوند خواته را ګرېځېدلې نه وي.** (📖 **وَحَدَّثَنِيهِ يَحْيَى بْنُ حَبِيبٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، - يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ - حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ «حَتَّى تَرْجِعَ.»**)

همدا راز د **مشکات (مشکوة) په ۲ ټوک ٦٩١ پاڼه او د ترمذي په (کتاب المقدمات) ۱ کتاب او ۲۸۴ حدیث کې راغلي** (📖 **وعن أبي علي طلق بن علي رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:« إذا دعا الرجل زوجته لحاجته فلتأته وإن كانت على التنور»**)

📕 **ژباړه**: کله چې یو شخص خپله مېرمن د خپل حاجت (جنسي غوښتنې) لپاره ور وغواړي نو هغه باید سمدستي خپل خاوند ته ورشي ولوکه د تناره پر سر هم وي.

- **عرفان** وېل شېخ صیب **که چېرې د مېرمنو کوروالي ته زړه نه وي نو بیا؟**
- **شېخ** وېل **هغه مهمه خبره نه ده ځکه که چېرې دوی د خپلو خاوندانو خواهش په هر حال کې پوره نه کړي نو مېړونه یې ښایي د زنا مرتکب شي.**
- **عرفان** وېل **خو که چېرې د مېرمنې شوق وي او له خاوند څخه مینه وغواړي او هغه د خپلې مېرمنې خواهش پوره نه کړي نو بیا؟ او بل دا ملایکې ولې د یوه خاوند او مېرمنې په شخصي چارو کې مداخله کوي؟**
- **شېخ** وېل **ګوره له ځانه عاطف پټېل مه جوړوه او په دین کې ډېرې پوښتنې د ګمراهۍ لامل کیږي نو نور پوښتنې بس!**

له همغې خبرې سره سم ټول په خپلو مخو لاړو او ما **د سورة النساء** په تلاوت شروع وکړه.

## د تبلیغ اتمه ورځ



زموږ سره **یو کلیوال بنګالی (غلام اعظم)** په تبلیغ کې ملګری شوی او له ځانه سره به یې **کوچنۍ تېږې** په جېبونو کې ګرځولې، موږ نه پرې پوهېدو چې په دې څه کوي، کله کله به یې عرفان ته هم ویل چې که په لاره وړې تیږې یا لوټې په مخه درتلې نو ماته یې راوړه ځکه چې زما په کار دي.

نن سهار د اوداسه لپاره خلک په کتار ولاړ وو او عرفان چې کله تشناب ته ننوت په غال مغال را ووتلو وېل **دا کوم احمق تشناب له تیږو ډک کړی او بند کړی یې دی او دا پچې دلته په تشناب کې څه کوي؟**

**وروسته بیا پوه شو چې په دې تیږو هغه بنګالي اودس ماتی کولو او د استنجا لپاره یې کارول.**

- عرفان ورته ووېل **او بهایي صاب دا تشناب کاغذ او اوبه د څه لپاره دي چې تا په تیږو اودس وچولو؟ او بیا دې هغه په کموړ کې هم اچولي او کموړ دې هم پرې بند کړی؟**
- بیا یې هغه **پچې** په کثافت دانۍ کې وغورځولې او وېل **دا ناولي شیان دې ولې تشناب ته راوړي وو؟**

- غلام ووېل **مونږ ته ملایانو ویلي چې په لوټه او یا تیږه اودس وچول د سنت طریقه ده.**

په دې وخت کې شېخ عرفان ته ووېل چې خیر غوسه کېږه مه او تر دې پچو دې ماته د رسول الله مبارک یو حدیث شریف راپه یاد کړ چې **حضرت عبدالله بن مسعود رض** روایت کړی:

📖 **حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ لَيْسَ أَبُو عُبَيْدَةَ ذَكَرَهُ وَلَكِنْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ، يَقُولُ أَتَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْغَائِطَ، فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَهُ بِثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ، فَوَجَدْتُ حَجَرَيْنِ، وَالْتَمَسْتُ الثَّالِثَ فَلَمْ أَجِدْهُ، فَأَخَذْتُ رَوْثَةً، فَأَتَيْتُهُ بِهَا، فَأَخَذَ الْحَجَرَيْنِ وَأَلْقَى الرَّوْثَةَ وَقَالَ «هَذَا رِكْسٌ»**

📖 **ژباړه:** له **عبدالله بن مسعود رض** څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) **د رفع حاجت** لپاره ولاړ او **ما ته یې ووېل چې درې لوټې (کاڼي یا تیږې) ورته راوړم. ما دوه لوټې پیدا کړې او په درېیمه پسې وګرځېدم (ولټېدم) خو پیدا مې نکړه نو یوه وچه پچه (د حیوان وچ فاضله مواد) مې واخیسته او هغه مې ورته راوړه.** هغه مبارک **دواړه لوټې واخیستې او درېیمه یې ایسته خطا کړه وېل دا ناپاک (ګنده) شی دی.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (كتاب الوضوء - باب لاَ يُسْتَنْجَى بِرَوْثٍ) حدیث ۱۵۶
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۴ کتاب ۲۲ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۱ ټوک ۴ کتاب ۱۵۸ حدیث
- څلورم ماخذ: سنن نسايي (كتاب الطهارة) ۱۶۱ ټوک ۱ کتاب ۴۲ حدیث

د دوی بحث لا روان وو او نوبت نه وو نو **زه د جومات خواکې د مندر تشناب ته ننوتم او هلته مې اودس تازه کړ ځکه چې لمونځ را څخه قضا کېدو**، بیا وروسته مو د شېخ الحدیث صیب په بیان ایمانونه تازه کړل.

## د تبلیغ نهمه ورځ



پرون د مازدیگر له لمانځه وروسته زه له عرفان او شیخ الحدیث سره یو ځای په گشت ووتم، دلته په **هندوستان** کې معولاً غواوې په سړکونو گرځي او **شیخ الحدیث یوې غوا ته مخامخ ودرېد او خبرې یې ورسره شروع کړې.**

ما او عرفان حیران ورته وکتل **ما وېل شیخ صیب ستا تبیت نن سمه دی؟ ما وېل له غوا سره ولې خبرې کوې؟**

شېخ وېل **دا غواګانې اوس کافرانې شوي**، وېل کوشش کومه که چېرې ښېرته یې په خبرو راولم.

بیا یې وېل **د رسول الله مبارک په زمانه کې به هغه مبارک له ونو، کاڼو، غواګانو او حتا له خپل مرکب سره هم چې یعفور نومېدو خبرې کولې خو اوس دا ټول الله پاک ګونګیان کړي.**

بیا یې دغه مبارک حدیث بیان راته کړ:

> 📖 حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم صَلاَةَ الصُّبْحِ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ «بَيْنَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً إِذْ رَكِبَهَا فَضَرَبَهَا فَقَالَتْ إِنَّا لَمْ نُخْلَقْ لِهَذَا، إِنَّمَا خُلِقْنَا

**لِلْحَرْثِ «فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللَّهِ بَقَرَةٌ تَكَلَّمُ.» فَقَالَ «فَإِنِّي أُومِنُ بِهَذَا أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ ـ وَمَا هُمَا ثَمَّ ـ وَبَيْنَمَا رَجُلٌ فِي غَنَمِهِ إِذْ عَدَا الذِّئْبُ فَذَهَبَ مِنْهَا بِشَاةٍ، فَطَلَبَ حَتَّى كَأَنَّهُ اسْتَنْقَذَهَا مِنْهُ، فَقَالَ لَهُ الذِّئْبُ هَذَا اسْتَنْقَذْتَهَا مِنِّي فَمَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ، يَوْمَ لاَ رَاعِيَ لَهَا غَيْرِي.» فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللَّهِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ. قَالَ «فَإِنِّي أُومِنُ بِهَذَا أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ.» وَمَا هُمَا ثَمَّ. وَحَدَّثَنَا عَلِيٌّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم بِمِثْلِهِ.**

📖 **ژباړه:** له **حضرت ابو هریرة** رض څخه روایت دی چې رسول الله ص چې کله د سهار لمونځ ادا کړ نو خلکو ته یې مخ ور واړولو او ویې فرمایل «**په داسې حال کې چې یو شخص (له بني اسرائیلو) غوا روانه کړې وه نو ناڅاپه پر غوا سپور شو او ویې وهله.» غوا وویل! «موږ د دې (وهلو) لپاره نه یو پیدا شوي بلکې د ځمکو لپاره (لکه له کوهي اوبه ایستل، یا ځمکه اړول) پیدا شوي یو.»** په دې وخت کې خلکو په حیرانتیا وویل **سبحان الله! آیا غوا خبرې کولای شي؟** رسول الله وفرمایل «زه په دې باور لرم او **ابوبکر** او **عمر** هم په دې باور دي که څه هم له دوی څخه یو هم شتون نه درلود. یو شخص له خپلې رمې سره وو او لېوه پرې حمله وکړ او له رمې څخه یې یو دانه پسه وتښتولو نو دغه شخص په لېوه پسې منډې کړې تر څو پسه یې له لېوه څخه وژغورلو. **لېوه ورته وویل! تا خو زما څخه (پسه) وژغورلو مگر هغه ورځ به یې څوک له ځنگلي ځناورو څخه ژغوري کومه ورځ چې د ژغورلو لپاره یې هېڅ شپون هم موجود نه وي پرته له ما.** خلکو وویل **سبحان الله! آیا لېوه خبرې کولای شي؟** رسول الله وفرمایل «مگر زه په دې باور لرم او **ابوبکر** او **عمر** هم په دې باور لري که څه هم له دوی څخه یو هم هلته شتون نه درلود.

- 📌 لومړی ماخذ: صحیح البخاري (كتاب أحاديث الأنبياء - ۵۴ باب) حدیث ۳۴۷۱
- 📌 دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦٠ کتاب ۱۳۸ حدیث
- 📌 دریم ماخذ: صحیح البخاري انگلیسي ۴ ټوک ۵٦ کتاب ٦۷۷ حدیث
- 📌 څلورم ماخذ: صحیح مسلم (كتاب فضائل الصحابة رض - باب مِنْ فَضَائِلِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضى الله عنه) حدیث ۲۳۸۸
- 📌 پنځم ماخذ: صحیح مسلم ۴۴ کتاب ۱۴ حدیث
- 📌 شپږم ماخذ: صحیح مسلم انگلیسي ۳۱ کتاب ۵۸۸۱ حدیث

ما او عرفان وېل **سبحان الله!**

**شیخ ته مې وېل که چېرې دغه ځارویو اوس هم خبرې کولای نو زموږ په وطن کې به دوی خپلو خاوندانو ته څومره ښکنځلې کولې ځکه چې زموږ په وطن کې په ځارویو ډېر ظلم کیږي.**

عرفان وې شېخ صیب **دا د صدیق دوی هېواد خو اسلامي دی نو هلته ولې څاروي خبرې نه کوي؟**

**شېخ هسې ځان تېر ایستلو او بیا د یوه هندو کور ته د دعوت لپاره ورغلو او کیسه همغسې پاتې شوه.**

# د تبلیغ لسمه ورځ



نن سهار زه او عرفان سره له شېخ الحدیث بهر ووتلو نو یو څو **بهرني سیلانیان** په مخه راغلل، عرفان هغوی ته سلام ور واچولو نو په دې وخت کې شېخ الحدیث ورته په **غوسه** شو وېل **تا ولې دغو یهودو او عیسویانو ته سلام ورکړ؟**

عرفان وېل شېخ صیب هغوی **بهرني سیلانیان** دي او **زموږ په هېواد کې مېلمانه دي** نو موږ باید **د هغوی ښه پالنه وکړو** ځکه چې دوی دلته راځي او **خپلې پیسې مصرفوي** چې له دې سره یې زموږ هېوادوالو ته کارونه پیدا کیږي **او هغه پیسې چې دوی دلته مصرفوي نو له هغه سره زموږ د هېواد اقتصاد پیاوړی کیږي نو په یو سلام اچولو څه تندر را پرېوتلو؟**

عرفان لا لګیا وو زموږ تر څنګ یو څو نور بهرنیان هم روان وو، **شېخ صیب هغوی ته ور نیږدې نیږدې کېدلو او هغوی یې د سړک بیخي څنډې ته کړل او نیږدې وو چې په موټر یې ووهي.**

ما غږ پرې وکړ **ما وېل شېخ صیب دا څه کوې خو سم صحي په لاره څه او د لارې لارویو ته ولې تکلیف جوړوې او بیا مې د عرفان د سلام په اړه هم ترې وپوښتل.**

شېخ وېل **یو مسلمان باید هېڅ وخت یهودانو او عیسویانو ته لومړی سلام وانه چوي.**
بیا یې د سلام اچولو او په لاره کې د خلکو څنډې ته کولو لپاره خپل شریعي دلایل د حدیث شریف په رڼا کې موږ دواړو ته وړاندې کړل:

**حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ، - يَعْنِي الدَّرَاوَرْدِيَّ - عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لاَ تَبْدَءُوا الْيَهُودَ وَلاَ النَّصَارَى بِالسَّلاَمِ فَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُمْ إِلَى أَضْيَقِ الطَّرِيقِ »**

**ژباړه:** له **حضرت ابو هریرة** رض څخه روایت دی چې رسول الله ص فرمایلي **کله چې له یهودانو او عیسویانو سره مخ شوئ نو تاسې هغوی ته سلام مه اچوئ** (ستړي مشي مه ورسره کوئ) مخکې له دې چې هغوی تاسې ته سلام نه وي اچولی او چې **کله تاسې پر لاره (سړک) له دوی هر یوه سره مخ شوئ (معنا ورسره ومو لیدل) نو هغه دې ته اړ باسئ چې تنګ ځای (نری لارې) ته ولاړ شي.**

- لومړی ماخذ: صحیح مسلم (کتاب السلام - باب النَّهْيِ عَنِ ابْتِدَاءِ، أَهْلِ الْكِتَابِ بِالسَّلاَمِ وَكَيْفَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ) حدیث ۲۱٦۷
- دویم ماخذ: صحیح مسلم ۳۹ کتاب ۱٦ حدیث
- درېیم ماخذ: جامع ترمذي (کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله ص - باب مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ)
- څلورم ماخذ: جامع ترمذي ۴۲ کتاب ۱۳ حدیث
- پنځم ماخذ: جامع ترمذي ۵ ټوک ۴۰ کتاب ۲۷۰۰ حدیث

عرفان وې بس! چې رسول الله مبارک دغه لارښوونه موږ ته کړې وي نو بیا د دویمې خبرې ګنجایش پکښې نشته او د رسول الله مبارک هر حکم باید پر ځای شي.

# د تلبيغ يوولسمه ورځ



پرون مازديگر يو ځو **اسرائيلي او اروپايي سيلانيان** جومات ته راغلل.

شيخ الحديث سمدستي عرفان ته غږ کړ وېل **دا ناولي جومات ته د ننه مه را پرېږده ځکه چې دا ناولي جومات بې لمازه کوي.**

ما وېل شيخ صيب گوره **موږ ته پکار ده چې له ټولو انسانانو سره ښه سلوک او ښه رفتار وکړو او هغوی هم زموږ په څېر انسانان دي، موږ کولای شو په ښو اخلاقو او ښه چلند د هغوی زړونه په لاس راوړو او هغوی را خپل کړو، بل هغوی تاته څه زيان در رسولی چې ته دومره کرکه ترې لرې او زړه دې ورته ډک دی؟**

شيخ وېل **يهود او نصارا هېڅکله زموږ دوستان نشي کېدای** او وېل يې له **يهودانو** او **عيسويانو** نه د رسول الله مبارک هم ډېر بد راتلل او هېڅ يې نه خوښېدل.

وېل **که چېرې رسول الله مبارک يو لس کاله نور هم ژوندی پاتې شوی وی نو يهودان او عيسويان به يې په بشپړه توگه له جزيرة العرب څخه ايستلي وی** او بيا يې دغه مبارک حديث راته بيان کړ:

📖 **وَعَنْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّاب - رضی الله عنه - أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اَللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ: «لَأَخْرِجَنَّ اَلْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ اَلْعَرَبِ, حَتَّى لَا أَدَعَ إِلَّا مُسْلِماً».**

📖 **ژباړه:** له **حضرت عمر بن خطاب** رض څخه روایت دی چې ما له رسول الله (صلی الله علیه و سلم) څخه اورېدلي چې ویل یې زه به له جزیرة العرب **(عربي ټاپووزمه چې اوسنی ۹ هېوادونه لکه اردون، عراق، کوېټ، بحرین، قطر، امارات، سعودي او یمن پکښې شامل دي)** څخه **ټول یهودان او عیسویان باسم (شړم) او پرته له مسلمانانو به هېڅوک پکښې نه پرېږدم.**

📌 لومړی ماخذ: صحیح مسلم (كتاب الجهاد والسير - باب إِخْرَاجِ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ) حديث ۱۷۶۷
📌 دویم ماخذ: صحیح مسلم ۳۲ کتاب ۷۵ حدیث
📌 درېیم ماخذ: انګلیسي صحیح مسلم ۱۹ کتاب ۴۳۶۶ حدیث
📌 څلورم ماخذ: بلوغ المرام (کتاب الجهاد) ۱۱ کتاب ۱۳۴۱ حدیث او عربي کتاب حدیث ۱۳۱۵

شېخ وېل په **(صحيح البخاري (كتاب أحاديث الأنبياء - بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِه) حديث ۳۳۲۹ کې راغلي)** چې **جبرائیل ع هم د یهودانو سخت دښمن وو** (📖 **أَخْوَالِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «خَبَّرَنِي بِهِنَّ آنِفًا جِبْرِيلُ.» قَالَ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ ذَاكَ عَدُوُّ الْيَهُودِ مِنَ الْمَلاَئِكَةِ.)**

وېل کله چې **حضرت جبرائیل** او رسول الله له هغوی سره دوښمني کوي نو پر موږ هم لازمه ده چې د نبي کریم ص دغه سنت پر ځای کړو.

بیا یې وېل رسول الله فرمایلي **چې مسلمانان به تل پر یهودانو غالب وي او موږ باید هر وخت د دوی پر وړاندې جهادونه وکړو** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف هم راته بیان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لَتُقَاتِلُنَّ الْيَهُودَ فَلَتَقْتُلُنَّهُمْ حَتَّى يَقُولَ الْحَجَرُ يَا مُسْلِمُ هَذَا يَهُودِيٌّ فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ»**

📖 **ژباړه:** له **ابن عمر رض** څخه روایت دی رسول الله ص فرمایلي: **تاسې به تر هغه له یهودانو سره جنګېږئ او وژنئ به یې چې تر څو حتا کاني هم ووايي: دلته راشه اې مسلمانه! دلته یهود دی (زما ترشا پټ دی) ویې وژنه.**

📌 لومړی ماخذ: صحیح مسلم (كتاب الفتن وأشراط الساعة - باب لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَتَمَنَّى أَنْ يَكُونَ مَكَانَ الْمَيِّتِ مِنَ الْبَلاَءِ) حديث ۲۹۲۱
📌 دویم ماخذ: صحیح البخاري (كتاب الجهاد والسير - باب قِتَالِ الْيَهُودِ) حديث ۲۹۳۵ او حدیث ۲۹۲۶
📌 درېیم ماخذ: صحیح مسلم ۵۴ کتاب ۱۰۱ حدیث

- ځلورم ماخذ: انگلیسي صحیح مسلم ۴۱ کتاب ۶۹۸۱ حدیث
- پنځم ماخذ: صحیح بخاري ۵۶ کتاب حدیث ۱۳۸
- شپږم ماخذ: جامع ترمذي (کتاب الفتن عن رسول الله ص - باب مَا جَاءَ فِي عَلاَمَةِ الدَّجَّالِ) حدیث ۲۲۳۶

عرفان د شیخ په خبرو دومره احساساتي شو چې نیږدې وو پر هغه سیلانیانو حمله وکړي.

ما سمدستي عرفان را ټینگ کړ او **هغه بهرنیانو ته مې وویل د دې شخص ذهني توازن لږ سم نه دی او تاسې خفه نشئ**، بیا مې سرې ځانه سره جومات ته ننستلو.

**ما وېل د خدای ظالمه ته په اومه پېړۍ کې ژوند نه کوې او نه هم اوس هغه د رسول الله مبارک د وخت د جهادونو وخت دی.**

ما وېل **نړۍ اوس د یوه کلي په څېر ده او دلته زموږ سره د هر نژاد، هر فکر، هر مذهب او هرې اېډیالوژۍ خلک گډ ژوند کوي او پرته له دې چې یو بل ونه زغمو او یو بل ته درناوی ونه کړو نو دلته په دې نړۍ کې به ژوند کول راته گران شي.**

چې کله عرفان لږ ارام شو نو زه بیا د **سورة الانفال** او **سورة الکافرون** تلاوت ته کښېناسم.

## د تلبیغ دوولسمه ورځ



نن سهار چې لمونځ مو ادا کړ او د شېخ الحدیث په بیان مو ایمانونه تازه کړل نو وروسته بیا شېخ لاسونه اوچت کړل او دوعا یې شروع کړه.

شېخ وېل **یا الله! ته زموږ هېواد د جمعي له برکته له فتنو او فسادونو څخه وساتې او دلته بیا د شیطان لعین ښکر را ونه خېژوې.**

چې کله دوعا ختمه شوه او ټولو امین ووېل نو ما له شېخ څخه پوښتنه وکړه ما وېل شېخ صیب **دا د شیطان د ښکرو څه کیسه ده زما خو هېڅ سر وربانديې خلاص نشو؟**

شېخ الحدیث وېل دا **په کومو سیمو کې چې زلزلې کېږي نو لامل یې هلته د شیطان ښکر را وتل دي او کله چې په یو ځای کې د شیطان ښکر راووځي نو هلته زلزلې کېږي** او بیا یې دغه مبارک حدیث هم موږ ټولو ته بیان کړ:

> 📖 **حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ ذَكَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَأْمِنَا، اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا». قَالُوا وَفِي نَجْدِنَا. قَالَ «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَأْمِنَا، اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَفِي نَجْدِنَا فَأَظُنُّهُ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ «هُنَاكَ الزَّلاَزِلُ وَالْفِتَنُ، وَبِهَا يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ».**

**ژباړه:** له **ابن عمر** څخه روایت دی چې له رسول الله (صلی الله علیه و سلم) وفرمایل: اې الله! ته زموږ پر **شام** برکت واچوې. اې الله! ته زموږ پر **یمن** برکت واچوې. خلکو وویل همدارنګه زموږ پر نجد هم. رسول الله بیا وفرمایل: اې الله! ته زموږ پر **شام** برکت واچوې. اې الله! ته زموږ پر **یمن** برکت واچوې. خلکو بیا وویل همدارنګه زموږ پر نجد هم. په درېیم ځل رسول الله وفرمایل: **نجد د زلزلو او فتنو (فساد) ځای دی او له هغه ځای څخه د شیطان ښکر راوځي.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث (کتاب الفتن - باب قَوْلِ النَّبِيِّ ص الْفِتْنَةُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ) ۷۰۹۴ او ۱۰۳۷
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۹۲ کتاب ۴۵ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۹ ټوک ۸۸ کتاب ۲۱۴ حدیث
- څلورم ماخذ: عربي جامع ترمذي (کتاب المناقب عن رسول الله ص) ۴۹ کتاب ۴۲۳۴ حدیث

عرفان وېل شېخ صیب **دا فتنې او فسادونه خو په پولنډ، سنګاپور، یوروګوای او ایستونیا کې خورا ډېر کیږي خو هلته د دې شیطان بلا وهلي هېڅکله ښکر نه را خېږي مګر برعکس په جاپان، نیپال، اندونیزیا، فیلیپین، هندوستان، اېکوادور او ترکیه کې بیا هر وخت د شیطان ښکر راوتلي وي چې د دې وجه به څه وي؟**

شېخ وېل **ډېرې پوښتنې د انسان عقیده او ایمان کمزوری کوي** نو نور دا بحث بند کړه، دا خبره یې وکړه او سرې لاړ او د باندې ووتلو.

# د تبلیغ دیارلسمه ورځ



پرون ماښام عرفان خېل **هندو ملګری** جومات ته راوستی وو چې **منیش کومار** نومېدو او وېل **دا شخص غواړي اسلام قبول کړي خو لومړی یو دوه پوښتنې لري چې باید ځوابونه یې ترلاسه کړي.**

ما وېل **الحمدالله** شکر دا خو د خوښۍ زېری دی او د پوښتنو د ځوابونو ترلاسه کولو لپاره به یې شېخ الحدیث صیب ته یې ورولو تر څو د شېخ له عالمانه ځوابونو څخه برخمن شي.

له روغبړ وروسته مو شېخ ته وویل چې دا شخص یو څو پوښتنې لري چې مخکې له اسلام قبلېدو غواړي خپل ځوابونه ترلاسه کړي، شېخ وېل بسم الله پوښتنه دې وکړه.

**منیش** وېل زه له ډېرې موده ستاسې دین مطالعه کوم خو چې کله مې د **مسند احمد بن حمبل حدیث** او **سیرت النبویه** کې دغه دوه موارد ولوستل نو لړ یې په سوچ کې کړم او غواړم ستاسې څخه وپوښتم چې ایا دغه خبره رېښتیا ده او کنه؟

رسول الله (صلی الله علیه و سلم) **د عباس لور ام حبیبه چې لا تیخوره (شیرخوره) وه ولیده** او رسول الله مبارک وفرمایل: **کله چې دا نجلۍ لویه شي او که چېرې زه ژوندی وم نو له دې سره به واده کوم.**

ماخذ: مسند احمد ابن حنبل حدیث ۲۵۶۳۶

**(سهیلي ۲ . ۷۹):** له **یونس رض** څخه روایت دی چې رسول الله مبارک **(ام الفادي) ولیده چې کله هغې د رسول الله پر وړاندې خاپوړې کول** نو ویې فرمایل: **که چېرې زه ژوندی وم نو له دې سره به واده کوم. ملګر رسول الله وفات شو چې کله هغه لویه شوه او بیا یې له سفیان بن الاسود سره واده وکړ.**

ماخذ: سیرة النبویة (ابن اسحاق) ۳۱۱ پاڼه

شیخ وېل **منیش صیب** زه د دغه مواردو پر کره والي څه نشم ویلی خو زه به په دې مورد تحقیق وکړم هو البته همدغه ته مشابه یو حدیث شته چې له حضرت عایشې رض څخه روایت شوی:

> **حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «أُرِيتُكِ فِي الْمَنَامِ مَرَّتَيْنِ، إِذَا رَجُلٌ يَحْمِلُكِ فِي سَرَقَةِ حَرِيرٍ فَيَقُولُ هَذِهِ امْرَأَتُكَ، فَأَكْشِفُهَا فَإِذَا هِيَ أَنْتِ، فَأَقُولُ إِنْ يَكُنْ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ يُمْضِهِ.»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عایشې رضی الله عنه** څخه روایت دی چې د الله رسول (ص) ماته وویل: **«ته دوه ځله ماته په خوب کې را ښکاره شوې یې. یو شخص (جبرائیل ع) چې ته یې د وربښمو په جامو (ورونې) کې پیچلې روانه کړې وې** ماته وویل: **«دا ستا ښځه (مېرمن) ده. ما چې کله را لوڅه کړې نو ومې کتل ته وې.** بیا مې له ځانه سره وویل: **«که چېرې دا د الله له لوري وي نو واقع به شي.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث (کتاب النکاح - باب نِكَاحِ الأَبْكَارِ) حدیث ۵۰۷۸
- دویم ماخذ: صحیح البخاري حدیث (کتاب التعبیر - باب كَشْفِ الْمَرْأَةِ فِي الْمَنَامِ) حدیث ۷۰۱۱
- دریم ماخذ: صحیح البخاري ۹۱ کتاب ۲۹ حدیث
- څلورم ماخذ: صحیح البخاري ۶۸ کتاب ۱۶ حدیث
- پنځم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۷ ټوک ۶۲ کتاب ۱۵ حدیث
- شپږم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۹ ټوک ۸۷ کتاب ۱۳۹ حدیث

منیش چې دغه مبارک حدیث واورېد نو وېل که ستاسې اجازه وي نو به اوس ولاړ شم څکه لږ کار لرم او د شهادت د کلمې ویلو لپاره به بیا بېګا ته بېرته راشم.

منیش چې لاړ نو پسې لاړ او بیا یې درک را مالومـ نشو، بېګا مې بیا عرفان ته ووېل ته زنګ ورپسې ووهه چې منیش څه شو؟

عرفان وېل زما ټیلیفون ته همـ ځواب نه وایي چې څه خبره به وي؟

نن سهار همـ عرفان ډېر کوښښ وکړ خو میش یې ټیلیفون ته ځواب ورنکړ.

# د تبلیغ څوارلسمه ورځ



نن د ماسپښین له لمانځه وروسته د **اسلم محمود** په نامه یو ځوان جومات ته راغئ او د جومات په امام پسې ګرځېدو، ما چې وکتل سړی سرګردانه یوه خوا بله خوا کتل نو زه یې خواته ورغلم او پوښتنه مې ترې وکړه چې په چا پسې ګرځې او څوک لټوې؟

وېل د جومات امام مې پکار دی او غواړم یو څو پوښتنې ترې وکړم.

ما وېل امام بهر چېرې وتلی خو راځه زه به دې یوه بل عالم ته ورولم او هغه به ستاسې مشکل در حل کړي او سړی مې د شېخ الحدیث خواته وروست.

که څه هم د شېخ تبیت لږ سم نه وو خو بیا یې هم وېل وایه ځوانه څه خدمت درته کولای شم؟

اسلم وېل شېخ صیب **د یو چا ډېره ښایسته لور ده او زه چې کله هم د هغه کورته ورځم نو یو عجیبه احساس کوم او زه پرې مین شوی یم، غواړم واده ورسره وکړم.**

شېخ وېل نو په دې کې څه ستونزه ده خو ورشه کورنۍ دې د مرکې لپاره ورلېږه.

اسلم وېل نه شېخ صیب **ستونزه دا ده چې هغه شخص ته ما خپل ورور ویلي او د ورورۍ لاس مې ورکړی او د هغه بچي ماته کاکا وايي نو زه څنګه دا جرئت وکړم چې له خپل ورور څخه د هغه د لور لاس وغواړم؟**

شېخ وېل دا فکر به دې لومړی کړی وی خو خیر اوس هم کومه خبره نه ده او ته کولای شې چې له هغه سره واده وکړې **ځکه هغه ستا اصلي ورور نه دی بلکې ديني ورور دې دی** او بيا يې دغه مبارک حدیث ورته بیان کړ:

**📖 حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ، عَنْ عِرَاكٍ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَطَبَ عَائِشَةَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ إِنَّمَا أَنَا أَخُوكَ، فَقَالَ « أَنْتَ أَخِي فِي دِينِ اللَّهِ وَكِتَابِهِ وَهْىَ لِي حَلاَلٌ»**

📖 **ژباړه:** له **حضرت عروه رضی الله عنه** څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) **له حضرت ابوبکر څخه د حضرت عایشې رض (د حضرت ابوبکر لور) لاس وغوښت (د واده لپاره).** حضرت ابوبکر رسول الله مبارک ته وویل **مګر زه خو ستا ورور یم.** رسول الله ص وفرمایل **(بېشکه) ته د الله په دین او کتاب کې زما ورور یې مګر حضرت عایشه رض ماته روا (حلاله) ده.**

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري (كتاب النكاح - باب تَزْوِيجِ الصِّغَارِ مِنَ الْكِبَارِ) حدیث ۵۰۸۱
- دویم ماخذ: صحيح البخاري ۶۷ کتاب ۱۹ حدیث
- درېیم ماخذ: صحيح البخاري انګلیسي ۷ ټوک ۶۲ کتاب ۱۸ حدیث

شېخ وېل **تش په خبرو یو څوک د چا نه ورور کېږي او که چېرې یو شخص چاته حتا خپل زوی هم ووایي نو د اسلام له نظره هغه یې نه زوی کېږي او حتا د هغه له مېرمنې سره که چېرې نوموړی شخص یې طلاقه کړي نو واده هم ورسول کولای شي.**

اسلم وېل دا څه ګدي وړې وايي شېخ صیب **یو شخص ته دې چې زوی ووېل نو د هغه مېرمن خو بیا ستا نګور کیږي نو له خپلې نګور سره څوک څرنګه واده کولای شي؟**

شېخ وېل ساده انسانه **که چېرې دا کار بد کار وی نو رسول الله مبارک به پخپله نه وی کړی.**

اسلم وېل ایا رسول الله ص همداسې عمل ترسره کړی؟

شېخ وېل **هو!**

شېخ وېل **رسول الله مبارک د زید بن حارث په نامه یو ځوان ته خپل زوی ویلي وو او زید بیا وروسته د زید بن محمد په نامه هم شهرت وموند او رسول الله مبارک د هغه له مېرمنې سره چې زینب بنت جحش نومېده نکاح وکړه وروسته له هغې چې زید طلاقه کړه.**

اسلم وېل بس بس شېخ صیب ما مې د خپلو پوښتونو ځوابونه وموندل او بس سړی همداسې له جوماته ووتلو.

ما وېل کور دې ودان شېخ صیب چې حتا د دغه تکلیف په حالت کې هم هره ورځ زموږ ایمانونه په دغه مبارکو احادیثو را تازه کوې.

# د تبلیغ پنځلسمه ورځ



پرون مازدیگر **زه، عرفان** او **شېخ الحدیث** په گشت ووتلو، **په لاره شېخ الحدیث د ظالم بچي د حورو کیسې راته شروع کړې او په داسې انداز یې کولې چې نیږدې وو په موږ یې غسل اړولی وو**، په لاره ناڅاپه د شېخ حالت لږ خراب شو، ما فکر وکړ چې د پرونۍ اسهال وجه به وي.

ما وېل خیر خو دی شېخ صیب څنگه ناڅاپه داسې سربداله شوې څه دې ولیدل که څنگه؟

وېل **صدیقه ما د یوې ښایسته ښځې په شکل کې شیطان ولید او ما ترننه داسې ښایسته شیطان نه وو لیدلی.**

**وېل سبحان الله!** کاش چې دلته مې اوس کور راته نیږدې وی.

ما وېل شېخ صیب **ماته خو له تا او عرفان پرته کومه بل څوک په نظر رانغلل!** بل دا چې کور خو دې دومره لرې هم نه دی بلکې تر کوره دې نیمه ساعت لاره ده خو دا راته ووایه چې خیرت خو به وي چې په دې وخت کې ناڅاپه کور درپه یاد شو؟

وېل **صدیقه!** د انسان نفس کله کله په سړي غالب شي او زما نفس هم ډېر کمزوی دی نو باید کور ته تللی وی او بیا یې د خپل کور د تګ د لامل په اړه دغه مبارک حدیث موږ ته بیان کړ:

**📖 حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم رَأَى امْرَأَةً فَأَتَى امْرَأَتَهُ زَيْنَبَ وَهْىَ تَمْعَسُ مَنِيئَةً لَهَا فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ «إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ وَتُدْبِرُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ فَإِذَا أَبْصَرَ أَحَدُكُمُ امْرَأَةً فَلْيَأْتِ أَهْلَهُ فَإِنَّ ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ.»**

📖 **ژباړه:** له **حضرت جابر رض** څخه روایت دی چې **رسول الله یوه ښځه ولیده نو هغه مبارک سمدستي خپلې مېرمنې زینب رض ته راغئ په داسې حال کې چې زینب رض چرم رنګولو (څرمن چمتو کوله) جماع (جنسي نیږدې والی) ورسره وکړه او بېرته د خپلو اصحابو خوا ته را ستون شو** او ویې فرمایل: **ښځه د شیطان په شکل کې را وړاندې کېږي او تاسې هر یوه چې کله هم ومونده نو خپلو مېرمنو ته ورشئ (جنسي نیږدې والی ورسره وکړئ)** تر څو هغه څه دفعه کړئ چې نفس یې احساسوي.

- لومړی ماخذ: صحیح مسلم (کتاب النکاح - باب نَدْبِ مَنْ رَأَى امْرَأَةً فَوَقَعَتْ فِي نَفْسِهِ إِلَى أَنْ يَأْتِيَ امْرَأَتَهُ أَوْ جَارِيَتَهُ فَيُوَاقِعَهَا) حدیث ۱۴۰۳
- دویم ماخذ: صحیح مسلم ۱٦ کتاب ۱۰ حدیث
- دریم ماخذ: انګلیسي صحیح مسلم ۸ کتاب ۳۲۴۰ حدیث
- څلورم ماخذ: سنن ابي داود ۲۱۵۱ حدیث او همداراز سنن ابي داود ۱۲ کتاب ۱۰٦ حدیث

د شېخ له دغه مبارک حدیث څخه وروسته ما عرفان ته ووېل **بچیه هسې له دې ځایه پښې سپکوه ځکه د شیخ حالت سم نه دی او هسې نه چې پر تا حمله ونه کړي.**

شیخ ته مې ووېل کور دې وران نشه په دې حدیث خو دې موږ هم غرق کړو او زما خو کور هم په افغانستان کې دی، تا داسې حدیث شریف راته بیان کړ چې بلکل دې هک پک حیران کړم، ما وېل اوس نه پوهېږم چې تا را ونیسم او که عرفان؟

بس نور ایسته د جومات په لوري ترې روان شوم او خپل تلاوت مې شروع کړ او پر شیطان لعین مې لعنتونه ووېل.

# د تبلیغ شپاړسمه ورځ



پیرون مازدیگر د شیخ الحدیث صیب خبرو زما هم په دې مسافرۍ کې حالت را خراب کړی وو او فشار مې جگ شوی وو خو بیا مې هم لس کرته استغفار ووې او پر ځان مې چوف کړ چې د شیطان له وسواس څخه په امن کې پاتې شم.

ماښام چې کله د شیخ الحدیث په بیان زموږ ټولو ناستو حاضرینو ایمانونه ځروب شول نو د **محمد قریشي** په نامه یو هلک د جومات د امام خواته راغئ ویل امام صیب کولای شم ستاسې نه یوه پوښتنه وکړم؟

امام ویل ولې نه مهرباني! په دې وخت کې شیخ هم د دې ځوان پوښتنې ته متوجې شو.

محمد قریشي ویل امام صیب تاته خو مالومه ده چې دلته زموږ د **حیدرآباد** په ایالت کې **په دوبي کې روژه نیول شین کفر وي او زه یې هیڅ توان او طاقت نه لرم.**

**ویل کله چې روژه په اوړي کې واقع شي نو زه او مېرمن مې روژه نه نیسو او بیا چې کله هوا سړه شي نو هغه خپلې ۲۹ یا ۳۰ قضایي روژې په ژمي کې پوره کوو او بل ایا د روژې په حالت کې موږ کولای شو چې یو بل مچو کړو؟** ویل ایا په دې خو به زموږ روژه نه ماتیږي؟

امام ویل لومړی خو به د الله عذاب هر وخت پر تاسې دواړو باندې را نازل وي ځکه چې **تاسې گمراهان قصداً روژه قضا کوئ او بیا ورپسې دا بې ځایه پوښتنې هم کوئ؟**

وېل سل پله سله ستاسې روژه په مچو کولو ماتیږي او بیا یې په دې مورد د رسول الله مبارک دغه حدیث هم ورته بیان کړ:

**📖 حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِي يَزِيدَ الضِّنِّيِّ، عَنْ مَيْمُونَةَ، مَوْلاَةِ النَّبِيِّ ـ صلى الله عليه وسلم ـ قَالَتْ سُئِلَ النَّبِيُّ ـ صلى الله عليه وسلم ـ عَنْ رَجُلٍ قَبَّلَ امْرَأَتَهُ وَهُمَا صَائِمَانِ قَالَ «قَدْ أَفْطَرَا»**

**ژباړه:** له **حضرت میموني رضی الله عنه (د رسول الله مبارک وینځه وه)** څخه روایت دی چې یو شخص له **رسول الله (صلی الله علیه و سلم)** څخه پوښتنه وکړه **چې خپله مېرمن یې ښکل (مچو) کړې په داسې حاله کې چې دواړه روژه وو.** هغه وفرمایل: **دوی خپله روژه ماته کړې.**

لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه (کتاب الصیام) ۷ کتاب حدیث ۱۷۵٦
دویم ماخذ: سنن ابن ماجه انګلیسي ۱ ټوک ۷ کتاب حدیث ۱٦۸٦

قریشي ته د امام خبرو او ځواب خوند ور نه کړ نو همداسې پاڅېد او روان شو، ما شیخ ته ووېل ته څه پکښې وایې؟

شیخ قریشي تر لاسه ونیو او د جومات یوې څنډې ته کښېناست او زه هم ورسره وم، بیا یې زیاته کړه چې دا زموږ د جومات امام ډېر افراطي دی او داسې هم نه ده لکه دی چې وایي، بیا یې وېل **په مچو کولو روژه نه ماتیږي او دا کار رسول الله مبارک هم کولو** او بیا یې دغه مبارک حدیث ورته بیان کړ:

**📖 حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، - يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ الْقُرَشِيَّ - عَنْ عَائِشَةَ، - رضى الله عنها - قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُقَبِّلُنِي وَهُوَ صَائِمٌ وَأَنَا صَائِمَةٌ.**

**ژباړه:** له **حضرت عایشې رضی الله عنه** څخه روایت دی چې **رسول الله (صلی الله علیه و سلم)** به **زه ښکلولم (مچو کولم) په داسې حال کې چې هغه به روژه وو او زه به هم روژه وم.**

لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الصوم - باب الْقُبْلَةِ لِلصَّائِمِ) حدیث ۲۳۸۴
دویم ماخذ: سنن ابي داود ۱۴ کتاب ۷۲ حدیث
دریم ماخذ: انګلیسي سنن ابي داود ۱۳ کتاب ۲۳۷۸ حدیث

د قریشي په خېره مسکا را ښکاره شوه وېل زنده باد شېخ الحدیث صیب، بیا شېخ زیاته کړه چې **رسول الله مبارک به حتا د عایشې رض ژبه هم د روژې په حالت کې زبېښله او روژه به یې نه پرې ماتېدله** خو ته ګوره دا کار ونه کړې ځکه چې موږ او تاسې پر خپلو نفسونو هومره واک او اختیار نه لرو لکه څومره چې رسول الله مبارک لرلو او بیا یې دغه حدیث ورته بیان کړ:


> **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دِينَارٍ، حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ أَوْسٍ الْعَبْدِيُّ، عَنْ مِصْدَعٍ أَبِي يَحْيَى، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ وَيَمُصُّ لِسَانَهَا.**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عایشې رضی الله عنه** څخه روایت دی **چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) به زه ښکلولم او زما ژبه به یې زبېښله چې کله به روژه وو.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الصوم - باب الصَّائِمِ يَبْلَعُ الرِّيقَ) حدیث ۲۳۸٦
- دویم ماخذ: سنن ابي داود ۱۴ کتاب ۷۴ حدیث
- دریېم ماخذ: انګلیسي سنن ابي داود ۱۳ کتاب ۲۳۸۰ حدیث

د شېخ الحدیث دغه حدیث نور هم زما فشار جګ کړ او هک پک یې حیران کړم چې اوس د امام صیب ومنو او که د شېخ الحدیث؟

ټوله شپه مې په ویښو تېره کړه، هر څه لټ په لټ اوښتم خو خوب را نغئ د سهار تر اذانونو او هېڅ په علت یې پوه نه شوم.

ښایي وجه به یې مسافري وه او کور هم ډېر زیات راته یادېدو.




د شېخ دا څو ورځې وشوې چې اسهال نه ښه کيږي، وختي له بيان وروسته شېخ راته وېل صديقه **ته څو يوه فلاجيل يا ميټوډين ګولۍ راکړه که درسره وي ګونډې دا اسهال مې ورسره ښه شي.**

ما وېل شېخ صيب **تا څو تېر کال چې کله عرفان اسهال شوی وو نو د شاتو د خوراک سپارښتنه ورته کوله** او بيا دې دغه مبارک حديث هم ورته بيان کړ:

📖 **عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطنُهُ. فَقَالَ «اسْقِهِ عَسَلاً». فَسَقَا. فَقَالَ إِنِّي سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلاَّ اسْتِطْلاَقً. فَقَالَ «صَدَقَ اللَّهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ». تَابَعَهُ النَّضْرُ عَنْ شُعْبَةَ.**

📖 **ژباړه**: له **حضرت ابي سعيد** څخه روايت دی چې يو شخص رسول الله ﷺ ته راغئ او ويل يې «**زما ورور اسهال دی**» رسول الله وفرمايل «**شات (عسل) ورکړه چې ويې څښي.**» نوموړی **شخص بېرته پيغمبر ﷺ ته راغئ او ويل يې په ورور مې شات وڅښل مګر د هغه حالت يې لا پسې خراب کړ.** رسول الله ﷺ وفرمايل **الله پاک رېښتيا ويلي او ستا د ورور خېټې دروغ ويلي.**

📌 لومړی ماخذ: صحيح البخاري (كتاب الطب - باب دَوَاءِ الْمَبْطُونِ) حديث ٥٧١٦

- دویم ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۷٦ حدیث ۳۳
- درېیم ماخذ: انگلیسي صحیح البخاري ۷ ټوک ۷۱ حدیث ٦۱۴
- ما وېل ستا خو عقیده ښه پخه ده نو ته ولې دا کار نه کوې؟

وېل صدیقه **هغه پخوانۍ عقیدې ولاکه په ننني دور کې راپاتې وي بس خدای پاک دې زموږ اخره خاتمه له ایمان سره کوي.**

ما وېل شېخ صیب خیر ور خطا کېږه مه ځکه **که چېرې خدای مکړه له اسهال څخه تاسې مړ هم شئ نو شهادت او حورې به مو په نصیب شي** او تاسې راته تېر کال ویلي وو چې **ځوک د اسهال له ناروغۍ څخه مړ شي هغه شهید دی** او د شهادت اقسام دې هم راته پنځه بیان کړي وو:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ: الْمَطْعُونُ، وَالْمَبْطُونُ، وَالْغَرِقُ، وَصَاحِبُ الْهَدْمِ، وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ»**

**ژباړه:** له **حضرت ابو هریره** څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **شهادت پنځه ۵ ډوله دی**: ځوک چې **طاعون (وبا ناروغۍ)** له وجې مړ شي، ځوک چې د **اسهال (کولرا)** له وجې مړ شي، ځوک چې د **غرقېدو** له وجې مړ شي، ځوک چې د **خاورو لاندې** شي او مړ شي او ځوک چې الله په لاره کې په **جګړه** کې شهید شي.

- لومړی ماخذ: رواه البخاري في الأذان (٦۵۴)
- دویم ماخذ: مسلم في الإمارة (۳۵۳۸)
- درېیم ماخذ: الترمذي في لاجنائز (۹۸۳)
- څلورم ماخذ: أحمد (۷۹۵۴)، ومالك في النداء للصلاة (۲٦۹)

بیا دې په دغه بل حدیث شریف کې د شهادت اقسام اوه ډوله بیان کړي وو:

**وعن جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: «الشُّهَدَاءُ سَبْعَةٌ سِوَى الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ : الْمَطْعُونُ شَهِيدٌ، وَالْغَرِقُ شَهِيدٌ، وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيدٌ، وَالْمَبْطُونُ شَهِيدٌ، وَالْحَرِقُ شَهِيدٌ، وَالَّذِي يَمُوتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيدٌ، وَالْمَرْأَةُ تَمُوتُ بِجُمْعٍ شَهِيدٌ»**

**ژباړه:** له **حضرت جابر بن عتیک** څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **شهادت په اوه ۷ ډوله دی**: ځوک چې **طاعون (وبا ناروغۍ)** له وجې مړ شي، ځوک چې د **غرقېدو** له وجې مړ شي، ځوک چې د **خپل مال او ناموس په دفاع کې** مړ شي، ځوک چې د

> **اسهال (کولرا)** له وجې مړ شي، څوک چې **اور کې د سوځېدو له وجې** مړ شي، څوک چې د **خاورو لاندې** (تعمير لاندې شي) شي او مړ شي او **کومه ښځه چې د ولادت پر مهال** مړه شي.

ماخذونه: رواه أبو داود في الجنائز (۲۷۰۴)، وصححه الألباني في صحيح أبي داود، ومالك في الجنائز باب النهي عن البكاء على الميت (۴۹۳)

**وېل صديقه! که چېرې زه شهيد شم نو دا احاديث شريف به امت ته څوک رسوي؟**

که چېرې ستاسې اسهال هم لکه د حديث شريف له تجويز سره سم د شاتو په وسيله نه ښه کېدو نو پوه شئ چې عقيدې مو خرابې شوي بيا د کوپارو په لاس جوړ شوي درمل د مجبورۍ په حالت کې وخورئ.

# د تبلیغ اوه لسمه ورځ



نن سهار له ناشتا وروسته عرفان بهر ووتلو او څو ساعته وروسته ګورو چې یو سپینږیری شخص یې له ځان سره جومات ته راوستلو.

ما وېل عرفانه **دا څوک دی؟**

عرفان وېل دا **ګوپال چاچا** دی او **نوی نوی مسلمان شوی**، غواړي چې د اسلام په اړه مالومات ترلاسه کړي.

ما ګوپال چاچا د شېخ الحدیث خوا ته وروستلو چې د اسلام د احکامو په اړه نور مالومات ورکړي نو **شېخ له ګوپال چاچا نه پوښتنه وکړه چې ایا ته سنت شوی یې او کنه؟**

**ګوپال چاچا د شېخ په خبره پوه نه شو او وېل هغه څه شی وي؟**

بیا مې ګوپال چاچا د سنتۍ په مطلب پوه کړ.

شېخ ته مې وېل خدای ته وګوره **دا سپینږیری سړی دی او که چېرې په دې عمر کې یې سنت کړې نو ښایي وجود یې چرک یا ګزک ونیسي او له بد به یې بدتره کړې او له دین څخه به یې زړه توری کړې.**

شېخ وېل نه صدیقه! یو **څوک چې د اسلام مبارک دین ته راځي نو که هغه هر څومره زوړ هم وي باید لومړی ځان سنت کړي** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأُوَيْسِيُّ قَالَ: حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلاَلٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ: «وَكَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ أُمِرَ بِالِاخْتِتَانِ وَإِنْ كَانَ كَبِيرًا»**

📖 **ژباړه:** له **ابن شعيب رض** څخه روايت دی چې **کله به يو شخص مسلمان شو نو هغه ته به يې امر وکړ چې خپل ځان سنت (ختنه) کړي ولوکه هغه زوړ هم وو.**

📌 لومړی ماخذ: عربي کتاب الْخِتَانِ (الألباني) ۱ کتاب حدیث ۱۲۵۲
📌 دویم ماخذ: : انګليسي کتاب الْخِتَانِ (الألباني) ۵۳ کتاب حديث ۱۲۵۲

بیا یې وېل ته خبر یې چې **حضرت ابراهيم خليل الله چې د ۸۰ کالو سپينږيری وو ځان په خپله په تېشه باندې سنت کړ** او دا خو تر ابراهيم خليل الله څخه زوړ نه دی او اوس خو دا کار هر نايي او ډاکټر ترسره کولای شي نو په دې کې د دليل ګنجايش نشته، بیا یې دغه مبارک حديث موږ ته بيان کړ:

📖 **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ بَعْدَ ثَمَانِينَ سَنَةً، وَاخْتَتَنَ بِالْقَدُومِ »**

📖 **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة رض** څخه روايت دی چې رسول الله (صلی الله عليه و سلم) فرمايلي چې **حضرت ابراهيم ع خپل ځان هغه مهال سنت (ختنه) کړ چې عمر يې له ۸۰ کلونو اوښتی وو او خپل ځان يې د تېشې (ترښځ) په وسيله سنت کړ.**

📌 لومړی ماخذ: صحيح البخاري كتاب الاستئذان حديث ۶۲۹۸
📌 دويم ماخذ: صحيح البخاري ۷۹ کتاب ۷۰ حديث
📌 درېيم ماخذ: صحيح البخاري انګليسي ۸ ټوک ۷۴ کتاب ۳۱۳ حديث

ګوپال چاچا چې د شيخ خبرې وکړې وېل زه په کور کې له خپلې مېرمنې سره مشوره کوم او بيا بېرته راځم او سرې همداسې پسې له جوماته ووت، خدای دې وکړي چې بېرته له خپلې کړې وعدې سره سم راشي.

له هغه وروسته عرفان وېل شيخ صيب زموږ **رسول الله مبارک څه وخت سنت شوی وو او چا سنت کړ؟**

شيخ وېل په ځينو رواياتو کې راغلي چې هغه سنت شوی پيدا وو او په ځينو کې راغلي چې هغه **جبرائيل امين** سنت کړی وو.

وېل والله اعلم ځکه زه هغه وخت موجود نه وم چې په اړه يې دقيق مالومات درکړم.

## د تبلیغ اته لسمه ورځ



خدای شته له پرونه راهیسې مې ډېر سخت تبیت خراب دی او **ناکامورا** مې یوه شېبه هم له سترګو نه وځي او ډېر زیات مې پرون ورپسې وژړل، سهار په جومات کې ډېر تنګ شوم نو د یو څو شېبو لپاره بازار ته ولاړم، هلته په بازار کې **ګوپال چاچا** په مخه راغئ.

ما وېل **چاچا تا خو پرون وېل چې بېرته راځم او ستا خو بیا درک هم مالوم نشو؟**

وېل صدیق صیب **زه چې کله کور ته ولاړم نو خپلې مېرمنې ته مې د شېخ الحدیث خبرې وکړې او هغه وېل ښه نو که چېرې زه هم مسلمانه شم نو ما به هم سنتوې؟**

ما وېل والله ما خو هېڅکله نه دي اورېدلي چې ښځې دې څوک سنت کړي خو زه به بیا هم له شېخ الحدیث څخه په دې مورد پوښتنه وکړم.

چې کله بېرته جومات ته ستون شوم نو د چاچا ګوپال پوښتنه مې له شېخ څخه وکړه.

شېخ وېل صدیقه! **د رسول الله په وخت کې به ښځې هم سنت کېدې** او اوس هم په عربي هېوادونو کې د ښځو سنتي تر سره کېږي خو زموږ او ستاسې د هېوادوالو عقاید لږ خراب شوي نو ځکه دوی دا کار اوس

نه کوي او یوازې دا کار یې نارینه وو ته ور پرې ایښی لاکن غوره به دا وی چې ښځو هم ځانونه سنتولی او بیا یې دغه مبارک حدیث راته بیان کړ:

**عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّ امْرَأَةً، كَانَتْ تَخْتِنُ بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «لاَ تُنْهِكِي فَإِنَّ ذَلِكَ أَحْظَى لِلْمَرْأَةِ وَأَحَبُّ إِلَى الْبَعْلِ»**

**ژباړه: امر عطیه** روایت کوي چې په مدینه کې یوه ښځه وه چې سنتي (ختنه) به یې کوله. رسول الله ص هغې ته وفرمایل، **ډېر په بېخ یې مه غوڅوه (پرې کوه) ځکه چې دا د ښځو لپاره بهتره دی او د نارینه وو لپاره نور هم زړه غوښتی (خوش ایند) دی.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (كتاب الأدب - باب مَا جَاءَ فِي الْخِتَانِ) حدیث ۵۲۷۱
- دویم ماخذ: سنن ابي داود ۴۳ کتاب ۴۹۹ حدیث
- درېیم ماخذ: انګلیسي سنن ابي داود ۴۱ کتاب ۵۲۵۱ حدیث

ملګرو نن هېڅ د ډېرو پوښتنو حوصله راسره نه وه چې له شیخ څخه مې په دې مورد کړې وی بس په همدې مبارک حدیث د نن لپاره اکتفا وکړئ.

## د تبليغ نولسمه ورځ



پرون مازديګر له عرفان څخه جمه تېره شوې وه او د جومات په انګړ کې يوازې په لمانځه ولاړ وو، زه د شېخ الحديث او د جومات له امام سره ناست وم او بنداړ مو کولو.

**عرفان په لمانځه کې د خپلو پښو منځ ګرولو ښايي خارښت به يې ورته کولو، کله چې عرفان له لمانځه څخه خلاص شو نو د جومات امام ورته ووېل ورشه له سره اودس وکړه ځکه ستا لمونځ ونشو؟**

عرفان په حيرانتيا ورته ووېل ولې مولانا صيب په څه وجه بېرته اودس را باندې کوې؟

امام ورته ووېل **ځکه چې تا خپل ښى لاس په خپله عورت ووهلو** او رسول الله مبارک موږ له دې کار څخه منع کړې يو او بيا يې د رسول الله مبارک دغه حديث شريف ورته بيان کړ:

> **📖 حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُمَرَ الْمَكيِّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم نَهَى أَنْ يَمَسَّ الرَّجُلُ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ.**

📖 **ژباړه:** له **عبدالله بن ابي قتاده** څخه روایت چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) **په تناسلي آلې د ښي لاس وهل (لمس کول) منع کړي.**

- لومړی ماخذ: جامع ترمذي (کتاب الطهارة عن رسول الله ص - باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهَةِ الاِسْتِنْجَاءِ بِالْيَمِينِ) حدیث ۱۵
- دویم ماخذ: جامع ترمذي ۱ کتاب ۱۵ حدیث
- دریيم ماخذ: صحیح مسلم (کتاب الطهارة - باب النَّهْىِ عَنْ الاِسْتِنْجَاءِ، بِالْيَمِينِ) حدیث ۲۶۷

بیا یې د رسول الله مبارک دغه حدیث شریف هم ورته بیان کړ او وروسته بیا امام صیب جومات ته ننوتلو:

📖 **عَنْ بُسْرَةَ بِنْتِ صَفْوَانَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «مَنْ مَسَّ ذَكَرَهُ فَلاَ يُصَلِّ حَتَّى يَتَوَضَّأَ»**

📖 **ژباړه:** له **بسره بنت صفوان** څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي **هر چا چې په خپله تناسلي آله لاس ووهلو نو باید تر هغې لمونځ ونه کړي چې اودس یې نه وي کړی.**

- لومړی ماخذ: جامع ترمذي (کتاب الطهارة عن رسول الله ص - باب الْوُضُوءِ مِنْ مَسِّ الذَّكَرِ) حدیث ۸۲
- دویم ماخذ: جامع ترمذي ۱ کتاب ۸۲ حدیث
- دریيم ماخذ: سنن نسایي (کتاب الغسل والتيمم- باب الْوُضُوءِ مِنْ مَسِّ الذَّكَرِ) حدیث ۲۶۷

شيخ الحدیث ورته وویل دا زموږ امام ډېر افراطي دی او ما نه غوښتل چې خوله ورسره واچوم کنه ماته هم په دې مورد حدیث شریف مالوم دی او بیا یې عرفان ته دغه مبارک حدیث بیان کړ:

📖 **وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ - رضى الله عنه – قَالَ «قَالَ رَجُلٌ: مَسَسْتُ ذَكَرِي أَوْ قَالَ اَلرَّجُلُ يَمَسُّ ذَكَرَهُ فِي اَلصَّلَاةِ, أَعَلَيْهِ وُضُوءٍ؟ فَقَالَ اَلنَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم «لَا, إِنَّمَا هُوَ بَضْعَةٌ مِنْكَ»**

📖 **ژباړه:** له **طلق بن علي** څخه روایت دی چې **یو شخص وویل ما په خپله تناسلي آله لاس ووهلو** نو ایا یو شخص باید د لمانځه په وخت کې په تناسلي آله لاس وهلو بیا اودس تازه کړي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم) وفرمایل **نه! ځکه چې هغه ستا د بدن یو غړی دی.**


- لومړی: ماخذ: بلوغ المرام (کتاب الطهارة - باب نواقض الوضوء) ۷۲ حدیث
- دویم ماخذ: بلوغ المرام ۱ کتاب ۸۲ حدیث
- دریيم ماخذ: انګلیسي بلوغ المرام ۱ کتاب ۷۸ حدیث
- څلورم ماخذ: رواه أبو داود (۱۸۲ و ۱۸۳)، والنسائي (۱۰۱)، والترمذي (۸۵)، وابن ماجه (۴۸۳)، وأحمد (۴۳)، وابن حبان (۲۰۷ موارد)

عرفان ته یې وېل هېڅ خبره نشته او بېرته اودس کولو ته حاجت نشته ځکه ستا عورت ستا د وجود یوه برخه ده.

د شېخ الحدیث او د جومات د امام ترمنځ د احادیثو په اختلاف کې عرفان او زه هک پک حیران شوو چې اوس د کوم یوه ومنو؟

بس زه نور ترې د اودس تازه کولو لپاره ولاړم ځکه چې د ماښام لمانځه ته وخت کم پاتې وو.

## د تبلیغ شلمه ورځ



یو خو دا زموږ د جومات د امام هم هر ځه ته پام وي، نن سهار چې ناشته مو کوله د جومات امام هم زموږ سره یو ځای ناست وو، هغه په ناستو کسانو کې یو شخص ته پام شو چې نوی نوی د اسلام په مبارک دین مشرف شوی او نوم یې پخوا **منوج سوامي** وو خو اوس یې خپل نوم **شکیل احمد** ته اړولی.

امام ورته ویل **شکیله ته ولې ډوډۍ په چپ لاس خورې؟** وېل **دا خو د شیطان لعین کار دی.**

هغه وېل مولانا صیب **دا ځکه چې زه له موره پیدا چپ لاسی یم** او په همدې لاس خوراک، لیک او لوست هم کوم او په ښي لاس ډوډۍ سمه نه شم خوړلی او نه هم په ښي لاس ډوډۍ خوند راکوي.

امام وېل ښه **نو ته به په تشناب کې د اودس ماتي په وخت کې هم هرو مرو خپل ذکر په ښي لاس کې نیسې؟**

شکیل وېل مالوم داره خبره ځکه چې په چپ لاس ډوډۍ خورم.

امام ورته وېل ته خبر يې چې **موږ مسلمانان رسول الله مبارک په تشناب کې په خپلو تناسلي آلو د ښي لاس وهلو څخه منع کړي يو؟**

بیا يې دغه مبارک حدیث ورته بیان کړ:

**📖 عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْخَلاَءَ فَلاَ يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ».**

📖 **ژباړه: ابي قتاده** له خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي **کله چې په تاسې کې څوک تشناب ته داخل شي نو خپل ښی لاس باید په خپله تناسلي آله ونه وهي (یا لمس يې نه کړي).**

📌 لومړی ماخذ: صحیح مسلم (کتاب الطهارة - باب النَّهْىِ عَنْ الاِسْتِنْجَاءِ، بِالْيَمِينِ) حدیث ۲٦۷
📌 دویم ماخذ: صحیح مسلم ۲ کتاب ۸۱ حدیث
📌 درېیم ماخذ: انګلیسي صحیح مسلم ۲ کتاب ۵۱۲ حدیث

بیا يې وېل **موږ رسول الله مبارک د متیازو پر مهال د خپل ذکر په ښي لاس کې له نیول څخه هم منع کړي یو ځکه چې دا هم د شیطان کار دی** او بیا يې دغه مبارک حدیث شریف ورته بیان کړ:

**📖 أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ دُرُسْتَ، قَالَ أَنْبَأَنَا أَبُو إِسْمَاعِيلَ، - وَهُوَ الْقَنَّادُ - قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي قَتَادَةَ، حَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «إِذَا بَالَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَأْخُذْ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا تَمَسَّحَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ »**

📖 **ژباړه: ابي قتاده** له خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي **کله چې تاسې متیازې (بولې) کوئ نو خپله تناسلي آله په خپل ښي لاس کې مه نیسئ. او چې کله استنجا کوئ (یا غټ حاجت رفع کوئ) نو په ښي لاس ځان مه پاکوئ.**

📌 لومړی: ماخذ: صحیح البخاري (کتاب الأشربة - باب النَّهْىِ عَنِ التَّنَفُّسِ، فِي الإِنَاءِ)
📌 دویم ماخذ: صحیح سنن نسایي (کتاب الطهارة) ۱ ټوک ۱ کتاب ۲۴ حدیث
📌 درېیم ماخذ: صحیح البخاري ۷۴ کتاب ۵٦ حدیث

د دې مبارکو احادیث په بیان سره شیخ الحدیث هم د تائید سر وخوځولو خو نور يې په اړه څه ونه وېل.

عرفان وېل مولانا صیب **ایا شیطان هم ډوډۍ خوري او زموږ په څېر میتازې کوي؟**

**بل هغوی کوم کوم ډول خوراکونه کوي که یې لږ مالومات موږ ته راکړې نو خوښ به شم؟**

امام وېل یو خو ستا دا بې ځایه پوښتنې مې هېڅ نه خوښیږي، **امام وېل ما شیطان څه لیدلی چې څه خوري؟**

**عرفان وېل نو له کومه خبر شوې د هغه په اړه؟**

امام وېل بهر وځه له جوماته مخکې له دې چې حوصله مې نوره ختمه شي، عرفان همداسې پسې ووتلو او زه لاړم په یوه کونج کې کښېناستم او ذکر او فکر مې شروع کړ.

## د تبلیغ یوویشتمه ورځ



پرون مازدیگر موږ د گشت پر ځای د **چهار منار** حکومتي روغتون ته ولاړو تر څو د ناروغانو عیادت وکړو او د نبي کریم ص سنت پر ځای کړو.

هلته په کټ کې د یوه ځوان خورا چیغې او فریادونه راتلل، ما شبخ ته وېل لکه چې دا مسکین خورا په تکلیف کې دی راځه چې پوښتنه یې وکړو او تر څنگ به یې دوعا هم ورته وکړو.

موږ چې کله د دې ځوان خوا ته ورغلو او تعرف مو ورسره وکړ نو خپل نوم **یې اکبر علي** راته معرفي کړ خو ویل یې خلک له نازه **چوټو بهایي** راته وایي.

چې ومې کتل نو سرې له نامه ښکته په وینو سور لړلی وو، بیا موږ پوښتنه ترې وکړه چې دا څه قضیه ده او ولې دې نیم بدن په وینو لړلی؟

اکبر وېل له تاسې به اوس دا کیسه څه پټوم وېل **زموږ په کوڅه کې یوه هندوه نجلۍ تېرېده او شیطان لعین پر ما غلبه وکړه او له هغه نجلۍ څخه مې په زور یوه مچو واخیسته.**

**وېل وروسته بیا خبر شوم چې هغه د یوه بدماش هندو خور وه او هغه را پسې راغئ او زما تناسلي آله یې را څخه پرې کړه.**

په دې وخت کې شیخ الحدیث وېل ځوانه ته استثنا نه یې بلکې دا ډول پېښې حتا د رسول الله ص په زمانه کې له یوه صحابي سره هم شوې وه او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف ورته بیان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا رَجَاءُ بْنُ الْمُرَجَّى السَّمَرْقَنْدِيُّ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو حَمْزَةَ الصَّيْرَفِيُّ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم صَارِخًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «مَا لَكَ» قَالَ سَيِّدِي رَآنِي أُقَبِّلُ جَارِيَةً لَهُ فَجَبَّ مَذَاكِيرِي . فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «عَلَىَّ بِالرَّجُلِ» فَطُلِبَ فَلَمْ يُقْدَرْ عَلَيْهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «اذْهَبْ فَأَنْتَ حُرٌّ». قَالَ عَلَى مَنْ نُصْرَتِي يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ يَقُولُ أَرَأَيْتَ إِنِ اسْتَرَقَّنِي مَوْلاَىَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ أَوْ مُسْلِمٍ».**

📖 **ژباړه: عمرو بن شعیب** له خپل پلار څخه روایت کوي چې نیکه یې وېل: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی په چیغو او فریاد راغئ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: **څه ستونزه لرې (څه خبره ده)؟** هغه ووېل: **زما څښتن (د غلام مالک) ولیدم چې د هغې مینځه (ښځینه غلامه) مې ښکل (مچو) کړه نو هغه زما تناسلي آله را څخه پرې کړه**. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **څه ما هغه شخص ته وروله**، هغه شخص خپل مالک ولټولو مگر پیدا یې نه کړ نو رسول الله وفرمایل: **ته نور آزاد یې**. هغه ووېل: یا رسول الله (ص) زما ساتنه به څوک کوي؟ که چیرې زما مالک بېرته ما غلام کړي نو څه به کوم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **ستا ساتنه به د هر مومن او مسلمان په غاړه وي.**

- 📌 لومړی ماخذ: عربي سنن ابن ماجه (کتاب الدیات) ۲۱ کتاب ۲۷۸۲ حدیث
- 📌 دویم ماخذ: انگلیسي سنن ابن ماجه ۳ ټوک ۲۱ کتاب ۲۶۸۰ حدیث
- 📌 دریم ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الدیات - باب مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ أَوْ مَثَّلَ بِهِ أَيُقَادُ مِنْهُ) حدیث ۴۵۱۹
- 📌 څلورم ماخذ: سنن ابي دواد ۴۱ کتاب ۲۶ حدیث
- 📌 پنځم ماخذ: سنن ابي داود ۴۰ کتاب ۴۵۰۴ حدیث

عرفان ورته وېل خیر په اوسني دور کې **دا دومره لویه ستونزه نه ده د ساینس او طبابت په مرسته ته کولای شې چې له ډونرانو څخه لکه د ښتورگو په څېر تناسلي آله هم ځان ته ولگوې.**

وېل دا نو بیا ستا په قسمت پورې اړه لري چې کوچنی او که یا هم لویه تناسلي آله به دې په نصیب شي خو که چېرې کوچنی تناسلي آله دې هم په برخه شوه نو له نشت څخه به درته ښه وي.

بیا یې ویل الله پاک به د دغه ظلم په بدل کې په هغه دونیا کې تر دې غټه تناسلي آله ستا په نصیب کړي.

د عرفان د ظالم زوی په دې خبرو شیخ الحدیث ته سخته خندا ورغله او نور یې ځان نشو ټینګولای نو بهر ووتلو.

## د تبلیغ دوه ویشتمه ورځ




پرون د شپې نیمه شپه وه چې **عرفان** یو دم له خوبه را پاڅېد او ماته وایي **صدیق صیب زه جنوب یم اوس څه وکړم** او دلته ګرمې اوبه هم نشته چې غسل پرې وکړم نو اوس به په دې سړو اوبو ځان څنګه مینځم؟

ما وېل خوار نشې ماته څه وایې خو ورشه هاغه دی شېخ الحدیث یا د جومات امام صیب را ویښ کړه چې هغه کومه فتوا درکړي.

عرفان شېخ الحدیث را ویښ کړ او قضیه یې ورته بیان کړه نو شېخ وېل خیر دا کومه لویه خبره نه ده **ته ورشه اودس وکړه او ورپسې خپل بلاګی دې ومینځه او نور پسې ویده شه** ځکه چې بیا سهار لمانځه ته نشو را ولاړېدی.

**ما وېل شېخ صیب عرفان خو وایي زه جنوب یم نو تاسې څنګه پرته له غسل دا خبره ورته کوئ؟**

وېل صدیقه! همدې ته ورته یوه واقعه له **حضرت عمر رض** سره هم شوې وه او بیا یې دغه مبارک حدیث راته بیان کړ:

📖 **عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ تُصِيبُهُ الْجَنَابَةُ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نَمْ»**

📖 **ژباړه: له حضرت عبدالله بن عمر رض** څخه روایت دی وایي **حضرت عمر بن خطاب رض** رسول الله ص ته د شپې پر مهال وویل چې **زه جنوب (جنسي ناپاک) شوم** (یعنې اوس څه وکړم؟) رسول الله ص ورته وفرمایل **ته باید اودس وکړې، خپله تناسلي آله (ذکر) ومینځه او بیا ویده شه.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الطهارة) حدیث ۲۲۱
- دویم ماخذ: صحیح البخاري (کتاب الغسل) حدیث ۲۹۰
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم (کتاب الحیض) حدیث ۳۰۶

بیا یې د رسول الله مبارک د غسل کولو د طریقې په اړه له **ام المومنین حضرت عایشې رض** څخه روایت شوی مبارک حدیث شریف هم راته بیان کړ او زموږ ایمانونه یې پرې تازه کړل:

📖 **عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَ يَدَهُ فِي الإِنَاءِ ثُمَّ تَوَضَّأَ مِثْلَ وُضُوئِهِ لِلصَّلاَةِ»**

📖 **ژباړه: حضرت عایشه رض** روایت کوي چې رسول الله ص به **چې کله له جنابت وروسته غسل کولو نو هغه به لومړی خپل دواړه لاسونه ومینځل** مخکې له دې چې خپل یو لاس په لګن (تشت) کې دننه کړي او **بیا به یې هغه شان اودس وکړ لکه د لمانځه لپاره.**

- لومړی ماخذ: صحیح مسلم (کتاب الحیض) حدیث ۳۱۶
- دویم ماخذ: صحیح مسلم ۳ کتاب ۴۳ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم انګلیسي ۳ کتاب ۶۱۹ حدیث

شیخ الحدیث وېل دا دین ډېر ساده شی دی خو خلکو ډېر سخت کړی، له دې خبرې سره موږ بېرته په خپلو بسترو ننوتلو او زه لا تر یو څو شېبو د تهجد د لمانځه لپاره ویښ پاتې شوم او بیا وروسته له تهجد پسې ویده شوم.

# د تبلیغ درویشتمه ورځ



څو ساته مخکې جوماته یو څو **بهرني سیلانیان** راغلي وو او شېخ الحدیث چې ورته وکتل نو وېل **ای لعنت دې پر تاسې یهودانو شي.**

ما وېل ولې شېخ صیب دې خورانو څه بد در رسولي چې ته لعنتونه پرې وایې؟

وېل **دا اسرائیلي یهودان دي او موږ باید هر وخت پر دوی لعنتونه ووایو.**

زه ورغلم او سترې مشې مې ورسره وکړل، بیا مې ترې وپوښتل ما وېل تاسې د کوم هېواد اوسېدونکي یاست؟

سیلانیانو وېل موږ **د مصر یو.**

شېخ ته مې ویل ته غلط شوی یې **دا د اسرائیلو نه دي بلکې مصري یهودان دي.**

شېخ وېل **هر څه چې دي خو بلاخره بیا هم یهودان دي او لعنت دې وربانديې وي.**

ما وېل گوره شېخ صیب **دوی که په هره عقیده دي لاکن موږ مسلمانانو ته خو لازمه نه ده چې بې ښه او بې بده پر دوی لعنتونه ووایو او کرکه ترې وکړو.**

ما وېل دوی خو ستا ملک ته مېلمانه راغلي او دلته ستاسې په ملک کې پیسې مصرفوي چې له هغه سره ستاسې د هېواد خلکو ته کارونه پیدا کیږي او اقتصاد مو ورسره پیاوړی کیږي نو ته ولې خپلې پښې پخپله په تبر وهې؟

شېخ وېل **موږ ته د رسول الله سنت مهم دي او هغه مبارک به هر وخت پر یهودانو لعنتونه ویل** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

**📖 عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم جَالِسًا عِنْدَ الرُّكْنِ - قَالَ - فَرَفَعَ بَصَرَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَضَحِكَ فَقَالَ «لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ» «ثَلاَثًا»**

📖 **ژباړه:** له **ابن عباس رض** څخه روایت دی چې د الله رسول (ص) په کونج کې (تر حجر الأسود لاندې) ناست وو او سترګې یې د اسمان لوري ته اوچتې کړې او وېې خندل او بیا یې وویل «**لعنت پر یهودانو**» دا خبره یې ۳ کرته وکړه.

📌 لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الإجارة) حدیث ۳۴۸۸
📌 دویم ماخذ: انګلیسي سنن ابي داود ۲۳ کتاب ۳۴۸۱ حدیث
📌 درېیم ماخذ: سنن ابي داود ۲۴ کتاب ۷۳ حدیث

خوا کې مې چې کله عرفان د شیخ الحدیث دا خبرې واورېدې نو خندا ورغله.

شېخ یو دم ورته په غوسه شو وېل **جاهله انسانه خانده مه ځکه خندا د انسان زړه کمزوری کوي** او بیا یې په دې هکله د رسول الله مبارک دغه حدیث شریف ورته بیان کړ:

**📖 عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم «لاَ تُكْثِرُوا الضَّحِكَ فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيتُ الْقَلْبَ»**

📖 **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة رض** څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي: **ډېر زیات مه خانده ځکه چې ډېره خندا زړه مړاوی کوي.**

📌 لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه (کتاب الزهد) ۵ توک ۳۷ کتاب ۴۱۹۳ حدیث
📌 دویم ماخذ: عربي سنن ابن ماجه ۳۷ کتاب ۴۳۳۳ حدیث

ما وېل شېخ صیب ساینسپوهان خو وایي چې **خندا:**

- **د وینې فشار را ټیټوي**
- **اندېښنې را کموي**
- **د وجود د مقاومت قوه پیاوړې کوي**
- **د زړه د تنګوالي یا ډیپرېشن لپاره ګټه لري**
- **له خندا وروسته انسان ښه تنفس کولای شي**
- **د زړه د رګونو لپاره ښه وي**
- **د عصبي فشار یا سټرېس هورمونونه آراموي**
- **د انسان دردونه راکموي**
- **له خندا سره د وجود کالوري هم مصرفیږي او حتا د اوږده عمر لامل هم کیږي.**

وېل **دا جاهل ساینسپوهان په څه خبر دي، وېل ایا دا ساینسپوهان له رسول الله مبارک څخه هوښیار وو؟**

ما وېل **نه!**

بس له دې خبرې وروسته شېخ الحدیث جومات ته ننوتلو او موږ له سیلانیانو سره خپل ګپ شپ ولګولو.

# د تبلیغ څلورویشتمه ورځ



پرون مابنام له بیان وروسته چې ایمانونه مو تازه شول نو شېخ وېل غواړم نن د مقربو ملایکو په اړه ستاسې علم مالوم کړم.

لومړی یې عرفان ته کاغذ ورکړ ورته ویل یې چې **مقربو ملایکو کوم کوم کارونه ترسره کول؟**

عرفان څو شېبې وروسته خپله پاڼه شېخ الحدیث ته ورکړه او لیکلي یې وو چې **هغوی غټ غټ کارونه ترسره کول** خو نور تفصیل یې نه وو لیکلی.

ما چې د عرفان پانه ولیده ما وېل **بچیه قسمت دې ښه دی چې زما شاگرد نه یې تېر شوی، ما وېل که چېرې په پوهنتون کې زما شاگرد وی نو په دې ځواب مې یو جانانه غټ صفر درته ډالی کولو.**

شېخ وېل خیر له دې به تېر شو، وېل هغه څه شی دي چې آسمان له یو ځای څخه بل ځای ته نقل کوي؟

**ما وېل شېخ صیب آسمان خو یو تشیال دی نو هغه څنگه نقل کوي؟**

وېل اجازه راکړه چې د رسول الله مبارک یو حدیث په دې مورد درته بیان کړم:

**📖 عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ مِنْ مَلاَئِكَةِ اللَّهِ مِنْ حَمَلَةِ الْعَرْشِ إِنَّ مَا بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِهِ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةُ سَبْعِمِائَةِ عَامٍ»**

**ژباړه: حضرت جابر رض** روایت کوي چې رسول الله ص فرمایل: ماته اجازه راکړل شوه چې د الله جل جلاله له فرښتو څخه **د هغې فرښتې په اړه څه ووایم چې اسمان حمل (له یو ځای څخه بل ځای ته نقل) کوي چې د هغه د غوږ د نرمۍ او اوږې تر مینځ فاصله د اوو سوو کلونو سفر دی.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (كتاب السنة - باب فِي الْجَهْمِيَّةِ) حديث ۴۷۲۷
- دویم ماخذ: سنن ابي داود ۴۲ کتاب حديث ۱۳۲
- دریم ماخذ: سنن ابي داود انگلیسي ۴۱ کتاب ۴۷۰۹ حديث

مور ټولو ووېل **سبحان الله!**

عرفان وېل شېخ صیب چې **د دې ملایکې له سر څخه تر پښو پورې به د څومره زره کلونو سفر وي؟**

او بل **دا دومره لویه ملایکه په کوم ځای کې ژوند کوي؟**

شېخ وېل **والله اعلم!** نور سرې د باندې ووتلو او مور **د دې ملایکې عظمت او لویوالي ته گوته په غاښ حیران پاتې شوو.**

# د تبلیغ پنځه ویشتمه ورځ



دلته زموږ د جومات خوا کې د **امجد چاچا** کور دی او اکثره اوقات به يې د مازديگر له خوا موږ ته د ثواب په نيت چاى برابرولو، هغه نن سهار د يو څه مودې لپاره ډهلي ته روان وو.

شیخ پوښتنه تري وکړه چې دا کور دې چاته پرېږدې؟

امجد چاچا ورته ویل په **الله پاک یې سپارم ځکه مېرمن او بچي مې هم را سره ځي او بل څوک نه لرم چې زما پر کور نظر وساتي**، وېل دا چې **زما کور د الله ج د کور** تر څنگ دی نو هغه به يې هرو مرو ساتنه کوي.

شیخ وېل ښېشکه خو بیا هم لوښي دې ټول پټ کړه او دروازې دې هم ښې کلکې وتړه **داسې نه چې کوم موږک دې کور ته ننه شي او کور ته دې اور در واچوي.**

**ما او عرفان یو بل ته حیران حیران وکتل او شیخ الحدیث ته مې ویل چې دا موږک څرنگه کور ته اور اچوي؟**

وېل د **رسول الله مبارک په زمانه کې به ځینو کافرو موږکانو د شیطان په لمسون دا کارونه کول** او بیا يې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ تر څو زموږ ایمانونه تازه کړي:

> 📖 حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رُمْحٍ، أَنْبَأَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ أَنَّهُ قَالَ «غَطُّوا الإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ وَأَطْفِئُوا السِّرَاجَ وَأَغْلِقُوا الْبَابَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لاَ يَحُلُّ سِقَاءً وَلاَ يَفْتَحُ بَابًا وَلاَ يَكْشِفُ إِنَاءً فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلاَّ أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُودًا وَيَذْكُرَ اسْمَ اللَّهِ فَلْيَفْعَلْ فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ بَيْتَهُمْ.»

📖 **ژباړه:** له **حضرت جابر رض** څخه روایت دی چې رسول الله ص فرمایلي: **خپل لوښي پټ کړئ، د خپلو اوبو کڅوړې (غړکي) کلکې کړئ، څراغونه مړه کړئ** او **دروازې وتړئ تر څو شیطان د اوبو کڅوړې را خلاصې نه کړي**، دروازې خلاصې نه کړي او لوښي لوڅ نه کړي. که چېرې څوک پرته له لرګي هېڅ هم پیدا نه کړي چې لوښي پرې پټ کړي نو د الله ج نوم دې ذکر کړي نو بیا یې پرېږدئ چې دا کار ترسره کړي او **موږک ښایي جامو او د کور هستوګنو ته اور ور واچوي.**

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه (كتاب الأشربة) ۴ ټوک ۳۰ کتاب ۳۴۱۰ حدیث
- دویم ماخذ: عربي سنن ابن ماجه ۳۰ کتاب ۳۵۳۶ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم (كتاب الأشربة) حدیث ۲۰۱۲
- څلورم ماخذ: صحیح مسلم ۳۶ کتاب ۱۲۳ حدیث

بیا یې وېل تر اسلام دمخه څارویو ډېر تخریب کولو او د دې خبرې په اړه یې د **حضرت ابراهیم خلیل الله** په اړه حدیث هم راته بیان کړ چې لټکې څرنګه هغه اور ته پوکی کولو په کوم کې چې حضرت ابراهیم ع واچول شو:

**حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ سَائِبَةَ، - مَوْلاَةِ الْفَاكِهِ بْنِ الْمُغِيرَةِ - أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى عَائِشَةَ فَرَأَتْ فِي بَيْتِهَا رُمْحًا مَوْضُوعًا فَقَالَتْ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ مَا تَصْنَعِينَ بِهَذَا قَالَتْ نَقْتُلُ بِهِ هَذِهِ الأَوْزَاغَ فَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «أَخْبَرَنَا أَنَّ إِبْرَاهِيمَ لَمَّا أُلْقِيَ فِي النَّارِ لَمْ تَكُنْ فِي الأَرْضِ دَابَّةٌ إِلاَّ أَطْفَأَتِ النَّارَ غَيْرَ الْوَزَغِ فَإِنَّهَا كَانَتْ تَنْفُخُ عَلَيْهِ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِقَتْلِهِ»**

📖 **ژباړه:** له **سائبه** څخه روایت دی کوم چې د فاکه بن مغیره غلامه وه چې کله د **حضرت عایشه رض** کور ته ورننوتله نو د هغې په کور کې یې نېزه ولیده او ویې وېل: **یا ام المومنین** (د مومنانو مورې) په دې باندې څه کوې؟ حضرت عایشې رض وفرمایل: **موږ په دې لټکې (څرموښکی) وژنو**. د الله رسول ﷺ موږ ته وویل چې کله حضرت ابراهیم ع اور ته ور واچول شو نو هېڅ داسې څناور نه وو چې د **حضرت ابراهیم ع** د اور څخه را ایستلو یا ژغورلو هڅه یې نه کوله **مګر لټکې اور ته لا پوکی پسې کولو** نو ځکه **رسول الله ﷺ موږ ته امر وکړ چې ویې وژنئ.**

- لومړی ماخذ: انګلیسي ابن ماجه ۴ ټوک کتاب ۲۸ حدیث ۳۲۲۱
- دویم ماخذ: عربي ابن ماجه کتاب ۲۸ حدیث ۳۳۵۳

موږ وېل **شکر خدایه چې هغه پخواني حشرات نشته کنه موږ خو به یې غرق کړي وو.**

# د تبلیغ شپږ. ویشتمه ورځ



پرون مازدیگر چې کله په گشت ووتلو نو په لاره کې **د هندوانو یو مندر** په مخه راغئ، هلته **د مندر یوه پنډېت په کاسه کې شیدې اچولې وې او موږکانو ته یې شیدې ورکولې.**

شیخ الحدیث عرفان ته ویل ته ورشه او **له پنډېت څخه پوښتنه وکړه چې دا شیدې د څه شي دي؟**

ما ویل شیخ صیب دا پوښتنه ولې ترې کوې؟

ویل صدیقه! **غواړم چې پوه شم چې دا موږکانو خو به یهودان نه وي؟**

**ما ویل شیخ صیب دا څه په گډو وډو سر یې، آیا په موږکانو کې هم یهودان شته؟**

ویل **هو!** او بیا یې ویل د دوی مالومول ډېر آسانه کار دی.

شیخ ویل که چېرې دلته د اوښې شیدې را پیدا شي نو **زه یې د رسول الله مبارک د حدیث په ذریعه سمدستي درته مالوموم چې ایا دا موږکان یهودان دي او کنه؟**

بله دا چې د دې موږکانو شمېر هم بیخي ډېر دی نو **زما پوره یقین دی چې دا به حتمن همغه د د یهودانو یوه ډله خلک وي چې الله پاک د رسول الله په زمانه کې د موږکانو څېرو ته مسخ کړي وو او ښایي دوی دلته هندوستان ته پناه راوړي وي.**

بیا یې د رسول الله مبارک دغه حدیث راته بیان کړ:

📖 **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «فُقِدَتْ أُمَّةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ لاَ يُدْرَى مَا فَعَلَتْ، وَإِنِّي لاَ أُرَاهَا إِلاَّ الْفَارَ إِذَا وُضِعَ لَهَا أَلْبَانُ الإِبِلِ لَمْ تَشْرَبْ، وَإِذَا وُضِعَ لَهَا أَلْبَانُ الشَّاءِ شَرِبَتْ» فَحَدَّثْتُ كَعْبًا فَقَالَ أَنْتَ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُهُ قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ لِي مِرَارًا. فَقُلْتُ أَفَأَقْرَأُ التَّوْرَاةَ.**

📖 **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة رض** روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي: **د بني اسرائیلو یوه ډله خلک ورک (شکلونه یې مسخ) شول.** هېڅوک نه پوهېږي چې دوی څه کړي وو. **مګر زما په خیال د دوی څېرې (شکلونه) موږکانو ته مسخ شوي وو.** ځکه **که چېرې د اوښې شیدې د موږک مخې ته کېښودل شي نو نه یې څښي** (د یهودانو په مذهب کې د اوښ غوښه حرامه وه) **مګر که د مېږې (ګډې) شیدې یې مخ ته کېښودل شي نو هغه څښي.** ما دغه حدیث کعب ته بیان کړ نو هغه (په حرانتیا) وپوښتل: ایا دا دې له رسول الله ص څخه اورېدلي؟ ما وویل هوا! کعب همدا پوښتنه څو کرته وپوښتله. ما وویل نو ایا زه تورات لولم؟ (مطلب چې له رسول الله څخه مې نه دی اورېدلي نو ایا له تورات څخه یې درته را نقل کوم؟

📌 لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث (کتاب بدء الخلق - باب خَيْرُ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ) حدیث ۳۳۰۵
📌 دویم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۵۹ کتاب ۱۱۳ حدیث
📌 درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۴ ټوک ۵۴ کتاب ۵۲۴ حدیث
📌 څلورم ماخذ: صحیح مسلم حدیث (کتاب الزهد والرقائق- باب فِي الْفَأْرِ وَأَنَّهُ مَسْخٌ) حدیث ۲۹۹۷

ما وېل شیخ صیب **په هندوستان کې د اوښانو شیدې په اسانه نه پیدا کیږي او همدا جزا یې بس ده چې دوی موږکان دي،** نور یې په همدې حال پرېږده.

پنډېټ هم حیران حیران راوکتل او وروسته موږ تري روان شو او د **اکرم** په نامه د یوه شخص کور ته د تبلیغ لپاره ورغلو.

# د تبلیغ اوه ویشتمه ورځ



پرون د جمعې مبارکې په ورځ زه له عرفان او شېخ الحدیث سره په ګشت ووتم، له ګشت څخه چې بېرته راتلو نو **شېخ الحدیث له دوکان څخه یوه کڅوړه را واخیسته او په لاره څو ځایه هډوکي پراته وو هغه یې را واخیستل او په کڅوړه کې یې واچول، بیا یې د سړک پر سر د غوا خوشایه هم را واخیستل او په کڅوړه کې یې واچول.**

ما فکر وکړ چې **دا به د چاپېریال د نظافت په خاطر دا شیان را ټولوي**، خو عرفان یو دم غږ کړ وېل **یق دا څه مرداري دې شروع کړې شېخ صیب په دې خوشایو او هډوکو څه کوې؟**

شېخ وېل **نن د جمعې مبارکه ورځ ده غوښتل مې چې د پېریانو لپاره خواړه چمتو کړم ښایي دوډۍ به یې نه وي خوړلې.**

ما وېل شېخ صیب نو **ایا پېریان دغه ګنده شیان خوري چې تاسې یې را ټولوئ؟**

وېل **هو! او همدا د پېريانو خوراک دی** او بيا يې د رسول الله مبارک دغه حديث راته بيان کړ:

📖 **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رضى الله عنه أَنَّهُ كَانَ يَحْمِلُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم إِدَاوَةً لِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ، فَبَيْنَمَا هُوَ يَتْبَعُهُ بِهَا فَقَالَ«مَنْ هَذَا» فَقَالَ أَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ. فَقَالَ «ابْغِنِي أَحْجَارًا أَسْتَنْفِضْ بِهَا، وَلاَ تَأْتِنِي بِعَظْمٍ وَلاَ بِرَوْثَةٍ.» فَأَتَيْتُهُ بِأَحْجَارٍ أَحْمِلُهَا فِي طَرَفِ ثَوْبِي حَتَّى وَضَعْتُ إِلَى جَنْبِهِ ثُمَّ انْصَرَفْتُ، حَتَّى إِذَا فَرَغَ مَشَيْتُ، فَقُلْتُ مَا بَالُ الْعَظْمِ وَالرَّوْثَةِ قَالَ «هُمَا مِنْ طَعَامِ الْجِنِّ، وَإِنَّهُ أَتَانِي وَفْدُ جِنِّ نَصِيبِينَ وَنِعْمَ الْجِنُّ، فَسَأَلُونِي الزَّادَ، فَدَعَوْتُ اللَّهَ لَهُمْ أَنْ لاَ يَمُرُّوا بِعَظْمٍ وَلاَ بِرَوْثَةٍ إِلاَّ وَجَدُوا عَلَيْهَا طَعَامًا.»**

📖 **ژباړه: حضرت ابو هريرة رض** روايت کوي وايي **يوه ورځ له رسول الله ص سره وم او د هغه لپاره مې د اوبو کوزه وړله تر څو اودس پرې تازه کړي او خپل فرايض (شرمگاه) پرې ومينځي.** چې کله د هغه شاته روان وم نو رسول الله وفرمايل دا څوک دي؟ ويې ويل زه ابو هريرة يم. رسول الله ص وفرمايل **لاړ شه زما لپاره لوټې (يا تيږې) راوړه چې خپل فرايض (شرمگاه) پرې پاکه کړم خو گوره هډوکي يا د څارويو پچې (يا خوشايه) رانه وړې. ابو هريرة** زياتوي وايي ما د خپلې چپنې په څنگ کې لوټې (تيږې) راوړې او د رسول الله خواته مې کېښودې او ولاړم. چې کله (پيغمبر) فارغ شو نو زه يې خواته ورغلم او ترې ومې پوښتل **چې ولې هډوکي او د څارويو پچې (يا خوشايه)؟** رسول الله ص وفرمايل **هغه د پېريانو خواړه دي.** (رسول الله) وايي ماته د نصيبين (ښار) د پېريانو استازي راغلي وو او څه ښه پېريان وو او زما څخه يې د انسانانو د خوړو د پاتې شونو په اړه وپوښتل. ما د هغوی لپاره له الله پاک څخه غوښتنه وکړه چې دوی به هيڅکله د هډوکو يا څارويو د پچو (خوشايو) له خوا نه تيرېږي مگر دا چې په هغو کې خواړه ومومي.

📌 لومړی ماخذ: صحيح البخاري حديث (كتاب مناقب الأنصار - بَابُ ذِكْرُ الْجِنِّ) حديث ۳۸۶۰
📌 دويم ماخذ: صحيح البخاري حديث ۶۳ كتاب ۸۶ حديث
📌 درېيم ماخذ: صحيح البخاري انگليسي ۵ ټوک ۵۸ کتاب ۲۰۰ حديث

عرفان وېل شيخ صيب **يقين مې نشي چې زموږ د هندوستان پېريان دې اوس دغه شيان وخوري او ښايي د رسول الله مبارک په زمانه کې به د عربو پېريانو دغه شيان خوړل خو د دې زمانې او دې ځای پېريان به دا ناولي شيان ونه خوري.**

د دوی دواړو بحث لا روان وو خو زه نور ترې جلا شوم نور خبر نه يم چې څه به يې سره ويلي وي.




## د تبلیغ اته ویشتمه ورځ



نن سهار یوه تجار د خپل زوی د زیږیدو په خوشالی کې د ټول جومات لپاره د سهار ناشته برابره کړې وه، **امام صیب** او **شیخ الحدیث** نو په چایو سم ځانونه وپړسول، خدای شته ما هم نیږدې ۳ پیالې چای وڅښلو ځکه ډیر خوندور چای یې جوړ کړی وو.

وروسته مې امام صیب، شیخ الحدیث او عرفان ته وویل را ځئ د باندې لږ قدم ووهو ځکه بیخي ډیر چای او خواږه شیان مو وخوړل تر څو دا هضم کړو او دوی هم زما خبر ومنله او بهر د قدم وهلو لپاره ووتلو.

یو شل دقیقې مو چې په لاره مزل وکړ نو شیخ الحدیث ته متیازې ورغلې او شاوخوا مو تشناب ولټولو خو پیدا مو نکړ نو **شیخ الحدیث د یوه دېوال خواته د اودس ماتي لپاره کښېناست.**

عرفان وویل امام صیب **دا شیخ الحدیث خو د قبلې لوري ته متیازې کوي ایا دا کار ګناه نه لري؟**

امام وویل بلکل دا ګناه ده او **دا د خدای په قهر اخته شیخ دی چې د مکې معظمې لوري ته متیازې کوي**، کله چې شیخ الحدیث فارغ شو نو امام صیب ورته وویل چې **ته نه شرمېږې چې د قبلې لوري ته دې متیازې کولې؟**

وویل **ایا رسول الله مبارک د قبلې لوري ته له میتازو او غټ حاجت رفع کولو څخه موږ نه یو منع کړي؟** وویل ایا د رسول الله دغه مبارک حدیث شریف دې نه دی اورېدلی؟

📖 عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ«لاَ تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا لِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»

**ژباړه:** له **ابو ایوب** څخه روایت دی چې رسول الله ص فرمایلي: **مه قبلې ته مخامخ او مه هم خپله شا د قبلې لوري ته اړوئ چې کله متیازې یا غټې حاجت پوره کوئ بلکې مخونه مو د شرق یا غرب لوري ته کړئ.**

- لومړی ماخذ: بلوغ المرام (کتاب الطهارة) ۹۸ حدیث
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۱۴۴ او ۳۹۴ حدیث
- دریم ماخذ: جامع ترمذي حدیث ۸

شیخ الحدیث وېل ګوره امام صیب لومړی خو **زما سره کوم کامپاس (قبله نما) نشته چې په هر ځای کې قبله پرې مالومه کړم،** دویم دا **چې کله ما متیازې کولې نو د خپلې تناسلي آلې سر مې کوږ نیولی وو.**

دریمه خبره دا زه منم چې په سهوه کې به د قبلې لوري ته ناست وم **خو دا دومره لویه مسئله هم نه ده ځکه دا کار پخپله رسول الله مبارک هم کړی وو** او بیا یې دغه مبارک حدیث امام صیب ته بیان کړ:

📖 عَنْ جَابِرٍ، قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ «أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِبَوْلٍ فَرَأَيْتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْبَضَ بِعَامٍ يَسْتَقْبِلُهَا»

**ژباړه:** له **حضرت جابر رض** څخه روایت دی چې **رسول الله ص به قبلې ته مخامخ د متیازو (بولو) کول منع کړي وو. مګر ما رسول الله له مرګ څخه یې یو کال وړاندې ولید چې د قبلې لوري ته یې متیازې کولې.**

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه (کتاب الطهارة وسننها) ۱ ټوک ۱ کتاب ۳۲۵ حدیث
- دویم ماخذ: عربي سنن ابن ماجه ۱ کتاب ۳۴۸ حدیث
- دریم ماخذ: جامع ترمذي حدیث ۹
- څلورم ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الطهارة) حدیث ۱۳

ما عرفان ته وېل غرق شې ستا د شیطانت په وجه نیږدې وو چې دا دواړه دې په جنګ سره اچولي وو خو بس خدای فضل وکړ چې جنګ پېښ نه شو او ټول ببرته جومات ته روغ او سلامت ستانه شوو.



# د تبليغ نهه ويشتمه ورځ



سهار زه له شېخ الحديث او عرفان سره د قدمو وهلو لپاره بهر ووتلو، په لاره کې **يو چينايي** په مخه راغئ چې قصابۍ ته ولاړ وو، د چينايي پر مور سترګې ولګېدې نو پوښتنه يې وکړه چې تاسې په انګليسي پوهېږئ او کنه؟

ما او عرفان وېل هو څه نا څه خو پرې پوهېږو، دا ووايه چې څه ستونزه لرې او مور دې څه مرسته کولای شو؟

چينايي وېل دا ټوله ورځ **د خره په غوښه پسې ګرځم ايا دلته به پيدا نشي؟ وېل ډېر زړه مې ورته شوی.**

مور وېل **خوار نشې د خدای په دومره موجوداتو کې دې آخر د خره غوښې ته زړه شوی؟**

بيا مو ورته ووېل **دلته ښايي د خرو غوښه پيدا نشي خو پر ځای يې د چرګ يا پسه غوښه وخوره او دا به ښايي د خره تر غوښې ډېر خوند درکړي او نور مور ترې په خپله مخه روان شوو.**

عرفان وېل شېخ صيب **ماته يو سوال پيدا شو او هغه دا چې دا خر خو غوښه خور حيوان هم نه دی او لکه د غواوو په څېر واښه خوري نو بيا ولې د خرو غوښه حرامه ګرځول شوې؟**

شېخ الحديث وېل **د خيبر تر غزوې پورې صحابه کرامو د خرو غوښې خوړلې خو وروسته د خرو شمېر په کمېدو شو او د بار وړلو لپاره بل څه نه پيدا کېدل نو بيا رسول الله مبارک د خرو غوښه خوړل منع وګرځول.**

د خرو د خوراک د منع کېدو په اړه يې د رسول الله مبارک دغه حديث شريف راته بيان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ـ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم جَاءَهُ جَاءٍ فَقَالَ أُكِلَتِ الْحُمُرُ. فَسَكَتَ، ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ فَقَالَ أُكِلَتِ الْحُمُرُ. فَسَكَتَ، ثُمَّ الثَّالِثَةَ فَقَالَ أُفْنِيَتِ الْحُمُرُ. فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى فِي النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ. فَأُكْفِئَتِ الْقُدُورُ، وَإِنَّهَا لَتَفُورُ بِاللَّحْمِ.**

📖 **ژباړه:** له **حضرت انس بن مالک رض** څخه روايت دی چې يو څوک رسول الله ص ته راغئ او ويل يې: **(مسلمانانو) خره وخوړل**. رسول الله سکوت اختيار کړ. شخص بيا راغئ ويل **خره وخوړل شول**. رسول الله بيا سکوت اختيار کړ. شخص په درېيم ځل بيا راغئ ويل يې **د خرو غوښې وخوړل شوې**. په دې اساس رسول الله ص دغه ناره وهونکي ته امر وکړ چې خلکو ته اعلان وکړي چې الله او د هغه رسول د خرو د غوښو خوړل منع کړي. څکه نو **دېګونه چپه شول په داسې حال کې چې (د خره) غوښې پکښې خوټېدې.**

📌 لومړی ماخذ: صحيح البخاري حديث (كتاب المغازى- باب غَزْوَةُ خَيْبَرَ) حديث ۴۱۹۹
📌 دويم ماخذ: صحيح البخاري حديث ٦٤ کتاب ۲۳۹ حديث
📌 درېيم ماخذ: صحيح البخاري انګليسي ۷ ټوک ۵۹ کتاب ۵۱۱ حديث

شېخ وېل همداراز د صحيح مسلم په **(كتاب الصيد والذبائح وما يؤكل من الحيوان - باب تَحْرِيمِ أَكْلِ لَحْمِ الْحُمُرِ الإِنْسِيَّةِ) حديث ۱۹۴۰** کې **حضرت انس رض** روايت کوي **چې کله رسول الله خيبر فتح کړ نو موږ د کلي څخه د باندې خره ونيول او د هغه غوښه مو پخه کړه او ومو خوړله.**

شېخ وېل خو بيا وروسته رسول الله **يوازې د آس د خوښې د خوړلو اجازه ورکړه** او بيا يې دغه مبارک حديث شريف موږ ته بيان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ ـ رضى الله عنهما ـ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ، وَرَخَّصَ فِي الْخَيْلِ.**

**ژباړه:** له **حضرت جابر بن عبدالله رض** څخه روایت **چې د خیبر په ورځ رسول الله ص د خره د غوښې خوړل منع کړل او د آس د غوښې خوړلو ته یې اجازه ورکړه.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث (کتاب المغازی- باب غَزْوَةُ خَيْبَرَ) حدیث ۴۲۱۹
- دویم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۶۴ کتاب ۲۵۹ حدیث
- دریم ماخذ: صحیح البخاري انگلیسي ۵ ټوک ۵۹ کتاب ۵۳۰ حدیث

د دوی دغه مجلس مې بیخي خوا را وگرځوله، زه نور د دوی له بحث څخه جلا شوم او بېرته جومات ته راغلم او د **سورة المائدة** په تلاوت مې پیل وکړ.

# د تبليغ دېرشمه ورځ



پرون مازدیگر چې کله له گشت څخه بېرته جومات راتلو نو شېخ الحدیث یو بوتل اوبه هم په لاره کې له ځان سره را واخیستې، اوبه یې په خوله کې واچولې او په لاره یو ماشوم په مخه راغئ نو شېخ الحدیث له خپلې خولې د ماشوم په مخ اوبه ور وشیندلې.

عرفان ور غبرِ کې وېل شېخ صیب دا دې څه مردارخور کار وکړ او هغه ماشوم دې هسې بې ځایه په ژړا کړ.

شېخ وېل **ما خو له ساتېرۍ دا کار وکړ، وېل دا ماشوم هسې بې عقل وو چې په دې کار هم دی په ژړا شو**.

بیا یې وېل د رسول الله په زمانه کې چې کله رسول الله مبارک به د کوم ماشوم پر مخ له خپلې مبارکې خولې اوبه ور وشیدندلې نو هېڅ بده به یې نه گڼله.

عرفان وېل نو **ایا رسول الله هم د ماشومانو پر مخ له خپلې خولې اوبه ور شیندلې؟**

شېخ وېل **هو!** او بیا یې د **محمد بن ربیع** څخه دغه روایت شوی حدیث شریف راته بیان کړ:

📖 **عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ، قَالَ عَقَلْتُ مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم «مَجَّةً مَجَّهَا فِي وَجْهِي وَأَنَا ابْنُ خَمْسِ سِنِينَ مِنْ دَلْوٍ»**

📖 **ژباړه: محمود بن ربیع** وایي **چې کله زه پنځه کلن هلک وم زما یادیږي چې رسول الله ص به له ستل (ډولچه) څخه اوبه په خپله خوله کې واچولې او زما پر مخ به یې را وشیندلې.**

📌 لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب العلم - باب مَتَى يَصِحُّ سَمَاعُ الصَّغِيرِ) حدیث ۷۷
📌 دویم ماخذ: صحیح البخاري ۳ کتاب ۱۹ حدیث
📌 درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۱ ټوک ۳ کتاب ۷۷ حدیث

شېخ وېل کله کله به رسول الله مبارک **خرما** یا **کجوره** وژووله او **بیا به یې د ماشوم په خوله کې له خپلو مبارکو لاړو سره ور تو کړه** او بیا یې د ام المومنین دغه مبارک حدیث هم موږ ته بیان کړ:

📖 **عَنْ عَائِشَةَ ـ رضى الله عنها ـ قَالَتْ أَوَّلُ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الإِسْلاَمِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَتَوْا بِهِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَأَخَذَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم تَمْرَةً فَلاَكَهَا ثُمَّ أَدْخَلَهَا فِي فِيهِ، فَأَوَّلُ مَا دَخَلَ بَطْنَهُ رِيقُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم**

📖 **ژباړه: حضرت عایشې رض** (د رسول الله مېرمن) روایت کوي لومړی ماشوم چې د اسلام په خاوره وزېږېد **عبدالله بن زبیر** وو. هغوی ماشوم رسول الله ص ته راوړ. **رسول الله ص یوه کجوره (خرما) را واخیسته او له ژوولو وروسته یې له خپلې خولې څخه د خرما لعاب د ماشوم په خوله کې ور واچولو. لومړی شی چې د ماشوم ګېډې ته ورغئ د رسول الله مبارک لاړې وې.**

📌 لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب مناقب الأنصار - باب هِجْرَةُ النَّبِيِّ ص وَأَصْحَابِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ) حدیث ۳۹۱۰
📌 دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦۳ کتاب ۱۳٦ حدیث
📌 درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۵ ټوک ۵۸ کتاب ۲۴۹ حدیث

عرفان وېل شېخ صیب **لکه چې د رسول الله مبارک لاړې ډېرې سپېڅلې وې چې د ماشومانو په خوله کې به یې ور تو کولې؟**

شېخ وېل بلکل او **کاش د هغه مبارکې لاړې زموږ په نصیب هم شوې وی.**

شېخ وېل **رسول الله مبارک حتا پر مړو هم خپلې مبارکې لاړې تو کولې** او بیا یې د حضرت جابر رض څخه دغه راویت شوی حدیث راته بیان کړ:

**حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرٍو، سَمِعَ جَابِرًا ـ رضى الله عنه ـ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَىٍّ بَعْدَ مَا دُفِنَ فَأَخْرَجَهُ، فَنَفَثَ فِيهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ.**

**ژباړه: حضرت جابر رض** وايي: رسول الله ص د **عبدالله بن اوبی** قبر ته راغئ چې کله یې هغه خښ کړ. د هغه جسد بېرته را وایستل شو او **رسول الله خپلې لاړې ورباندې تو کړې او خپلې جامې یې ور واغوستې.**

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري حديث (كتاب الجنائز - باب الْكَفَنِ فِي الْقَمِيصِ الَّذِي يُكَفُّ أَوْ لاَ يُكَفُّ ، وَمَنْ كُفِّنَ بِغَيْرِ قَمِيصٍ) ۱۲۷۰
- دویم ماخذ: صحيح البخاري ۲۳ كتاب ۳۲ حديث
- درېیم ماخذ: صحيح البخاري انگلیسي ۲ ټوک ۲۳ كتاب ۳٦۰ حديث

د دوی د خبرو په دوران کې ناڅاپي زړه بدوالی راته پیدا شو خو هېڅ په علت یې پوه نه شوم چې ولې، بس په منډه منډه جومات ته راغلم او اودس مې تازه کړ.

## د تبلیغ یو دېرشمه ورځ



سهار عرفان له **اشراق لمانځه** څخه وروسته ویده شو او کله چې را پاڅېد نو شېخ الحدیث هم په دې وخت کې کوټې ته را ننوتلو، د عرفان چې کله په شېخ سترګې ولګېدې نو سمدستي را کښېناست او ډېر یې ووهله، په دې وخت کې د شېخ الحدیث **د عرفان ښښتګ** ته پام شو چې پرتوګ یې سوری شوی وو.

شېخ الحدیث عرفان ته ور غبر کړ ویل **عرفانه! ته پوهېږې دا سامان دې چې ښکاري هغه ستا عورت دی؟**

عرفان خوارکی ډېر و شرمېد او شېخ الحدیث ته یې ویل ښښنه غواړم هېڅ مې خپل ځان ته پام نه وو.

شېخ موسکی شو او وېل خیر پروا نه کوي همداسې واقعه یو ځل له یوه صحابي سره هم شوې وه او بیا یې عرفان ته دغه مبارک حدیث شریف بیان کړ:

**حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ زُرْعَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جَرْهَدٍ، عَنْ أَبِيهِ، - قَالَ كَانَ جَرْهَدٌ هَذَا مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ - قَالَ جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عِنْدَنَا وَفَخِذِي مُنْكَشِفَةٌ فَقَالَ «أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ»**

**ژباړه: له جرهد** څخه روایت دی وایي رسول الله ص زموږ سره ناست وو او **زما عورت لوڅ وو (ښکارېدو).** رسول الله وفرمایل چې **ایا پوهېږې دغه شئ دې چې ښکاري هغه ستا عورت دی.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الحمّام) حدیث ۴۰۱۴
- دویم ماخذ: انګلیسي سنن ابي داود ۳۲ کتاب ۴۰۰۳ حدیث
- درېیم ماخذ: سنن ابي داود ۳۳ کتاب ٦ حدیث

شېخ وېل **هېڅکله خپل سامان مه لوڅوئ او مه هم کله د بل ژوندي یا مړي سامان ته ګورئ** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف عرفان ته بیان کړ:

**حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ أُخْبِرْتُ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لاَ تُبْرِزْ فَخِذَكَ وَلاَ تَنْظُرَنَّ إِلَى فَخِذِ حَىٍّ وَلاَ مَيِّتٍ»**

**ژباړه: له حضرت علي بن ابي طالب رض** څخه روایت دی وایي رسول الله ص فرمایلي: **خپل شی (سامان) مه لوڅوئ او د ژوندي او مړي شي (سامان) ته هم مه ګورئ.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الحمّام) حدیث ۴۰۱۵
- دویم ماخذ: سنن ابي داود (کتاب الجنائز) حدیث ۳۱۴۰
- درېیم ماخذ: سنن ابن ماجه (کتاب الجنائز) ٦ کتاب ۱۵۲۷ حدیث

عرفان وېل شېخ صیب همدا اوس خو تاسې پخپله زما سامان ته کتل او بل **دا د مړي د سامان په کتلو کې څه خبره ده؟**

شېخ په غوسه شو وېل یو خو ستا له ډېرو پوښتنو کله بیخي تنګ شم، وېل دویم عاطف له ځانه مه جوړوه.

وېل رسول الله مبارک موږ له ډېرو سختو او پېچلو پوښتنو څخه منع کړي يو نو ته هم سختې پوښتنې مه کوه او بیا یې دغه مبارک حدیث ورته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم «نَهَى عَنِ الْغَلُوطَاتِ»**
>
> **ژباړه: حضرت معاویه رض** وایي رسول الله ص **د اغزنو (مغلقو یا ډېرو) پوښتنو کولو څخه منع فرمایلې.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (کتاب العلم) حدیث ۳٦٥٦
- دویم ماخذ: انگلیسي سنن ابي داود ۲۵ کتاب ۳٦۴۸ حدیث
- درېیم ماخذ: سنن ابي داود ۲٦ کتاب ١٦ حدیث

ما وېل شیخ صیب **دا څکه ملایان او عالمان په دیني مسایلو کې پوښتنې نه خوښوي څکه چې رسول الله مبارک له سختو او مغلقو پوښتنو څخه موږ منع کړي یو.**

وېل **هو! څکه چې په دیني مسایلو کې ډېرې پوښتنې کول د گمراهۍ سبب گرځي** او داسې نه چې د ډېرو پوښتنو په وجه خدای مکړه زموږ ایمانونه ضایع او یا هم خدشه دار شي.

# د تبليغ دوه دېرشمه ورځ



نن سهار د ناشتې پر مهال د عرفان يو ملګرى چې **حافظ ملک** نومېدو راسره ناست وو، سمه زموږ د استاد سياف په څېر ږيره يې اوږده کړې او شېخ ته يې ويل شېخ صيب دا **موږ خو په يوه غير اسلامي هېواد کې ژوند کوو نو موږ به څه وخت وکولاى شو چې يو څو هندوې مينځې د غنيمت په توګه ونيسو؟**

شېخ وېل د الله نېکبخته **په مينځو باندې څه کوې؟**

حافظ وېل **غواړم چې عزل ورسره وکړم، وېل شېخ صيب ايا عزل ته په اسلام کې جواز ورکړل شوى او کنه؟**

شېخ وېل لومړى خو **زموږ حالت د دې نه دى چې دلته د هندوانو پر خلاف جهادونه پيل کړو ځکه چې د دوى شمېر زموږ پرتله څلور يا پنځه برابره دى.**

بل پاتې شوه د عزل خبره نو هغه چې کله موقع پيدا شوه وکړه او صحابه کرامو به هم د رسول الله مبارک په زمانه کې عزل ترسره کولو او رسول الله نه منع کول او بيا يې دغه مبارک حديث ورته بيان کړ:

📖 حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ «كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَلَمْ يَنْهَنَا»

📖 **ژباړه:** له **حضرت جابر رض** څخه روایت دی چې **د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به موږ (له مینځو سره) عزل کولو او موږ یې نه منع کولو.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب النکاح - باب الْعَزْلِ) حدیث ۵۲۰۷
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ٦٧ کتاب ۱۴۱ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انگلیسي ۷ ټوک ٦٢ کتاب ۱۳۵ حدیث
- څلورم ماخذ: صحیح مسلم (کتاب النکاح - باب حُكْمِ الْعَزْلِ) حدیث ۱۴۴۰

شېخ وېل **صحابه کرامو به حتا هغه وخت هم له خپلو مینځو سره عزل ترسره کولو چې قران عظیم الشان را نازلېدو او لا نزول یې بشپړ شوی نه وو** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف ورته بیان کړ:

📖 حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ.


📖 **ژباړه:** له **حضرت جابر رض** څخه روایت دی: **مونږ به درسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې عزل کاوه او قرآن هم نازلېدو.** (یعنې رسول الله له دې کار څخه نه منع کولو).

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه (کتاب النکاح) ۳ ټوک ۹ کتاب ۱۹۲۷ حدیث
- دویم ماخذ: عربي سنن ابن ماجه ۹ کتاب ۲۰۰۲ حدیث

ما وېل شېخ صیب **دا عزل یې لا پسې څه بلا ده که یې لږ راته تعریف کړې نو خوښ به شم.**

وېل **صدیقه!** اوس بهر وځم او د دې تعریف به مابنام درته وکړم او سړی همداسې پسې ووتلو.

# د تبلیغ دري دېرشمه ورځ




نن سهار مې شيخ الحديث ته ووېل تا خو پرون دا **عزل** وو که څه بلا وه راته تعریف هم نه کړ او ټول ملت دې په اندېښنه کې اچولی وو نو لطفاً دا سر خوړلی عزل راته تعریف کړه چې خلک په تمه ناست دي.

بیا یې وېل صدیقه نو غوږ شه:

**عرف الحافظ ابن حجر العزل بقوله: (أي النزع بعد الإيلاج لينزل خارج الفرج.)**
**حافظ ابن حجر رحمه الله عزل داسې تعریفوي چې: دنارینه تناسلي آله د ښځې له فرج څخه را ایستل چې انزال بهر واقع شي، دې ته عزل وايي.**

شیخ وېل **ګورئ چې د یهودانو په خبرو ونه غولېږئ ځکه هغوی عزل غلط تعریفوي.**

بیا یې د رسول اکرم **ص د یهودانو د درواغو په اړه** دغه مبارک حدیث شریف موږ ته بیان کړ:

> 📖 **عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَجُلاً، قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي جَارِيَةً وَأَنَا أَعْزِلُ عَنْهَا وَأَنَا أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ وَأَنَا أُرِيدُ مَا يُرِيدُ الرِّجَالُ وَإِنَّ الْيَهُودَ تُحَدِّثُ أَنَّ الْعَزْلَ مَوْءُودَةُ الصُّغْرَى. قَالَ «كَذَبَتْ يَهُودُ لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَخْلُقَهُ مَا اسْتَطَعْتَ أَنْ تَصْرِفَهُ.»**

**ژباړه: ابو سعید الخدري رض** وايي: یو سړی رسول الله ته راغی او ویې ویل: اې د الله رسوله! **زه یوه وینځه لرم او زه له هغې سره یوځای کېږم او عزل کوم (دننه مني نه تویوم) او نه غواړم چې هغه دې له ما نه حمل واخلي** او **یهود وايي چې عزل دماشوم دوژلو (ژوندي خښولو) سره برابر ده**، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: **یهود دروغ وايي، چې الله وغواړي ماشوم پیدا کړي نو ته هغه نه شې وروسته کولی.**

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود (كتاب النكاح - باب مَا جَاءَ فِي الْعَزْلِ) حديث ۲۱۷۱
- دویم ماخذ: سنن ابي داود ۱۲ كتاب ۱۲٦ حديث
- درېیم ماخذ: انگلیسي سنن ابي داود ۱۱ كتاب ۲۱٦٦ حديث

عرفان وېل شېخ صیب **که چېرې سړی ځان ټینګ نه کړی شي او تر څو چې خپله تناسلي آله راباسي او کار دننه ورڅخه خراب شي نو بیا څه کول پکار دي؟**

شېخ وېل **که چېرې په غلطۍ کې مني دننه خارج شي نو کومه لویه خبره نه ده ځکه ماشوم هسې هم له مني څخه نه پیدا کیږي بلکې هغه وخت پیدا کیږي چې الله پاک یې اراده وکړي.**

عرفان وېل شېخ صیب **دا څنګه امکان لري چې انسان دې له مني پرته پیدا شي؟**

شېخ وېل **ایا حضرت آدم ع او بي بي حوا انا له مني څخه پیدا شوي وو؟ ایا حضرت عیسی ع له مني څخه پیدا شوی وو؟** نو بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

**عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، سَمِعَهُ يَقُولُ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ «مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُونُ الْوَلَدُ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ خَلْقَ شَىْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَىْءٌ»**

**ژباړه:** له **ابو سعید الخدري رض** څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د عزل په اړه وپوښتل شول. رسول الله ص وفرمایل **ماشوم له ټولو اوبو (مني) څخه نه پیدا کیږي مګر دا چې الله پاک یې د پیدا کېدو اراده وکړي** او هېڅوک د هغه ممانعت نشي کولای.

- لومړی ماخذ: صحيح مسلم (كتاب النكاح - باب حُكْمِ الْعَزْلِ) حديث ۱۴۳۸
- دویم ماخذ: صحيح مسلم ۱٦ كتاب ۱۵۷ حديث
- درېیم ماخذ: انگلیسي صحيح مسلم ۸ كتاب ۳۳۸۱ حديث

ما او عرفان وویل **سبحان الله د الله پاک له قدرتونو جار شم چې انسان پرته له مني هم پیدا کولای شي.**

# د تبلیغ څلور دېرشمه ورځ



ماښام د عرفان یوه ملګري **(ساجد)** جومات ته ډوډۍ راوړې وه، عرفان زما مخې ته یو قاب وریجې او غوښته کېښوده، ما چې د غوښې مزه وڅکله نو ډېره بېخونده وه او عرفان ته مې وویل چې عرفانه بچې زه خو ډاکټرانو له غوښې پرهېز کړی یم نو زه به یوازې همدا وریجې وخورم.

شیخ الحدیث د ظالم بچي داسې بې خاره د غوښې څخه ډک قاب ته لګېدلی وو چې هېڅ ری یې هم پکښې نه وهلو.

د عرفان ملګري ساجد وویل شیخ صیب ښښنه دې وي که چېرې د غوښې خوند لږ بدل غوندې وي ځکه دا یوه هفته وشوه چې یخچال مې خراب شوی او دا غوښه مې تېره هفته اخیستې وه او په نن او سبا کې دا دی هفته پرې تېره شوه او ایله نن ورته برابر شوم چې پخه یې کړم.

شیخ وویل **ولې مېړمن دې کور نشته چې درته پخه کړې یې وی؟**

ساجد وویل نه شیخ صیب ځکه **مېرمنې مې سخت خیانت راسره وکړ او را څخه لاړه**، وویل زه د پخلي په جوړولو کې چندان تکړه هم نه یم خو دا غوښه مې د ثواب لپاره پخپله په خپلو لاسونو تاسې ته پخه کړې.

شېخ وېل **خانه خرابه** نو دا دي ولې په لومړي سر کې نه راته ويل چې پرما دې ټوله **خوسا** (**سخا**) شوې غوښه وخوړه او اوس دا خبره راته کوې، **بيا يې درې کرته لعنت په يهودانو ووېل.**

ما وېل شېخ صيب نو **په دې کې د يهودانو خوارانو څه غلطي ده چې ته پر هغوی لعنتونه وايې؟**

ما وېل **خوسا** (**سخا**) **غوښه درته ساجد راوړې او لعنتونه پر يهودانو وايې نو دا بيا کوم انصاف شو؟**

وېل صديقه! **که چېرې دا منحوسه يهودان نه وی نو نن به دا غوښې هم نه خرابېدې او بيا يې ووېل کور دې د حوا انا هم ړنګ نه شي که چېرې هغه نه وی نو نن به له ساجد سره د هغه مېرمنې هم خيانت نه کولو** او بيا دغه مبارک حديث شريف موږ ته بيان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم نَحْوَهُ يَعْنِي «لَوْلاَ بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْنَزِ اللَّحْمُ، وَلَوْلاَ حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوْجَهَا»**

📖 **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة رض** څخه روايت دی چې نبي کريم ص فرمايلي، **که چېرې بني اسرائيل نه وی نو هېڅکله به غوښه نه خرابېده** او **که چېرې بي بي حوا نه وی نو هېڅکله به مېرمنو (ښځو) له خپلو خاوندانو (مېړونو) سره خيانت نه کولو.**

📌 لومړی ماخذ: صحيح البخاري ( کتاب أحاديث الأنبياء - بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِهِ) حديث ۳۳۳۰
📌 دويم ماخذ: صحيح البخاري ۶۰ کتاب ۵ حديث
📌 درېيم ماخذ: صحيح البخاري انګليسي ۴ ټوک ۵۵ کتاب ۵۴۷ حديث

ما او عرفان وېل **سبحان الله** او بيا مې شېخ صيب ته ويل نو چې دا خبره ده او رسول الله مبارک دا خبره کړې نو بيا خو د بلې خبرې ګنجايش پکښې بيخي نشته او ما هم يو سپک لعنت پر يهودانو ور وشړلو.

عرفان وېل صديق صيب **په بي بي حوا انا هم يو څو لعنتونه ور وشړو او کنه ځکه چې هغې هم له بابا ادم ع سره خيانت کړی وو؟**

ما وېل چوپ شه غرق نشې **هغه خو د ټولو انسانانو مور وه** او بيا **د بابا ادم ع له چپې پوښتی هم پيدا شوې نو په خپله مور څوک لعنت وايي؟**

له همدې سره عرفان غلی شو او زه بهر ووتلم چې د ماخوستن د لمانځه لپاره اودس تازه کړم.

# د تبلیغ پنځه دېرشمه



هغه بله ورځ چې د عرفان ملګري **ساجد** کومه ډوډۍ راوړې وه نو له هغه وروسته عرفان **سخت اسهال** شو او تکلیف یې بیخي زیات شو نو روغتون ته مو یووړ، د اسهال تر څنګ یې ډېره **سخته تبه** هم شوه او خبرې یې هم بیخي بې سوره شوې څکه انسان اکثره د تبې په حالت کې ګډې وډې خبرې کوي.

زه، شېخ الحدیث او **نرس (اظهر علي)** یې تر څنګ ولاړ وو نو عرفان وېل صدیق صیب هغه پېري ته ووایه چې زما له مخې لرې شي.

ما وېل **عرفان بچی دلته خو پېریان نشته بلکې یوازې شېخ الحدیث او نرس راسره ولاړ دي بل خو څوک زه نه وینم.**

عرفان وېل هغه دی د کړکۍ تر څنګ ولاړ دی زه یې وینم.

شېخ وېل صدیقه ښایي عرفان ته به **پېریان** ښکاري کوم چې موږ ته نه ښکاري او د پېریانو شتون خو د قرآن په ایاتونو ثابت دی نو دروغ به نه وایي.

شېخ وېل رسول الله مبارک به هم کله کله داسې شیان لیدل چې نورو ته به نه ښکاره کېدل حتا **ام المومنین حضرت عایشې رض** ته به هم نه ښکاره کېدل.

**اظهر علي وېل شېخ صیب ایا رسول الله به هم د تبې په حالت کې داسې شیان لیدل؟**

شېخ وېل له هغه ځخه یې نه یمـ خبر **خو کله به چې رسول الله مبارک د امـ المومنین حضرت عایشې رض سره همبستره کېدو نو اکثره اوقات به پر رسول الله مبارک وحیې را نازلېده او جبرائیل ع سلامـ به ورته را ظاهره کېدو** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف موږ ته بیان کړ:

**حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ عَائِشَةَ ـ رضى الله عنها ـ زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «يَا عَائِشَ هَذَا جِبْرِيلُ يُقْرِئُكِ السَّلاَمَ» قُلْتُ وَعَلَيْهِ السَّلاَمُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ «قَالَتْ وَهْوَ يَرَى مَا لاَ نَرَى»**

**ژباړه: حضرت عایشې رض** (د رسول الله مېرمن) روایت کوي چې د الله رسول (ص) وېل: **«او عایشې! دا جبرایل ع دی او پر تا باندې سلامـ وایي»** ما وېل: وعلیکمـ وسلامـ ورحمت الله. **عایشه رض زیاتوي چې رسول الله به هغه شیان لیدل چې موږ به نه لیدل** (یا موږ ته نه ښکاره کېدل).

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (كتاب الأدب - باب مَنْ دَعَا صَاحِبَهُ فَنَقَصَ مِنِ اسْمِهِ حَرْفًا) حدیث ۶۰۲۱
- دویمـ ماخذ: صحیح البخاري ۷۸ کتاب ۲۲۵ حدیث
- درېیمـ ماخذ: صحیح البخاري انگلیسی ۸ ټوک ۷۳ کتاب ۲۲۰ حدیث
- څلورمـ ماخذ: جامع ترمذي (كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم) ۴۹ کتاب ۴۲۵۵ حدیث

**اظهر وېل شېخ صیب دا په بستره کې به د وحیې د نزول لپاره ډېر نامناسب وخت نه وو چې حضرت جبرائیل امین به رسول الله مبارک ته راتلو؟**

شېخ وېل چوپ شه **گستاخه! وېل ایا ته تر الله پاک ډېر هوښیار یې؟** وېل دا نو د الله پاک خپله خوښه وه چې هرکله یې زړه غوښتل نو په خپل محبوب سردارد دو جهان رسول الله مبارک به یې وحیې را نازلوله.

ما وېل **سبحان الله بېشکه!** بیا مې اظهر د فشار کتلو په بهانه له ځان سره بهر را وایستلو، اظهر ته مې وېل ته مې دا فشار لږ وگوره چې څو ته رسېدلی، ما وېل هسې نه چې د دوی دواړو تر منځ فزیکي شخړه را ولاړه نشي.

د عرفان انځور مې چې اخیستو نو راته وېل یې چې گوره صدیق صیب انځور مې پر فېسبوک خپور نه کړې ځکه که چېرې شېخ الحدیث صیب یې ووینې نو بیا راته په غوسه کېږي نو ځکه مې د عرفان مخ دلته پټ کړی.

# د تبلیغ شپږ. دېرشمه ورځ



مور چې کله له عرفان سره په روغتون کې وو نو خبر شوو چې د عرفان هغه ملګری **ساجد** چا چې مور ته د ماښام ډوډۍ را وړې وه هغه خپله هم ډېر سخت ناروغ شوی وو او هغه هم همدلته بستر وو نو شیخ ته مې وویل راځه چې پوښتنه یې وکړو.

ساجد وویل شیخ صیب زه ډېره زیاته ښښنه غواړم چې زما په وجه عرفان ناروغ شو او زما حالت هم بیخي خراب دی، وویل په خپل ځان مې یقین نه راځي چې زه دې ژوندی پاتې شم.

ساجد وویل شیخ صیب **ما په ژوند کې ډېر بد بد کارونه ترسره کړي لکه غلا، زمور له ګاوندۍ نیلم سره زنا او یو دوه کرته مې له چرګانو او غواګانو سره هم بد فعلي کړې نو آیا الله پاک به زما دا ګناهونه راته معاف کړي که چېرې مړ شم؟**

شیخ وویل ایا **له الله تعالی پرته خو به دې د بل چا عبادت نه وي کړی؟**

ساجد وویل **نه شیخ صیب له الله پرته د بل څه عبادت به ولې کوم وویل زه خو څه هندو نه یم.**

شیخ وېل بس نو بیا خو هېڅ خبره هم نه ده چې له الله پاک پرته د بل څه عبادت دې نه وي کړی نو ته به حتمن جنت ته ځې او بیا یې د رسول الله مبارک دغه حدیث شریف ورته بیان کړ:

**حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ وَاصِلٍ، عَنِ الْمَعْرُورِ، قَالَ سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «أَتَانِي جِبْرِيلُ فَبَشَّرَنِي أَنَّهُ مَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ» قُلْتُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ«وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى».**

**ژباړه:** له **ابو ذر رض څخه روایت** دی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**جبرائیل ع ماته راغئ او ماته یې دا بشارت راکړ چې هر هغه څوک چې له الله پرته د بل کوم څه عبادت یې نه وي کړی او مړ شي نو جنت ته به داخلیږي.**» ما له (جبرائیل) څخه وپوښتل«**حتا که هغه غلا او زنا هم کړې وي؟** هغه وفرمایل: **(هو) حتا که یې غلا او زنا هم کړې وي.»**

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري (كتاب التوحيد - باب كَلاَمِ الرَّبِّ مَعَ جِبْرِيلَ وَنِدَاءِ اللَّهِ الْمَلاَئِكَةَ) حديث ۷۴۸۷
- دویم ماخذ: صحيح البخاري ۹۷ كتاب ۱۱۳ حديث
- دریيم ماخذ: صحيح البخاري انگلیسي ۹ توک ۹۳ كتاب ۵۷۹ حديث
- څلورم ماخذ: صحيح مسلم (كتاب الإيمان - باب مَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ مَاتَ مُشْرِكًا دَخَلَ النَّارَ) حديث ۹۴

شیخ وېل په **(حدیث قدسي - رواهُ الترمذي ۳۴)** راځي که چیرې ستاسې ګناهونه د اسمان تر وریځو پورې ورسیږي او تاسې له الله پاک بښنه وغواړئ نو بیا به مو هم الله پاک بښي او بل یې وېل له حیواناتو سره د بد فعلۍ په اړه کوم حدود نشته او دا خبره یې د **(سنن ابي داود - كتاب الحدود - باب فِيمَنْ أَتَى بَهِيمَةً ۴۴۶۵ حديث)** څخه راته وکړه.

ما وېل شیخ صیب فکر کوم زموږ په هېواد کې چې دا **ټالیبان** اکثره اوقات له **خرو**، **مېږو** او **غواګانو** سره په بدفعلۍ لیدل کیږي نو حتمن خپلې کړنې د همدغه مبارک حدیث په ذریعه توجې کوي، نور زه ترې ووتم او د عرفان خوا ته ورغلم.

# د تبلیغ اوه دېرشمه ورځ



پرون غرمه زه او شیخ الحدیث په عرفان پسې ورغلو چې له روغتون څخه یې بېرته جومات ته راولو نو **د روغتون د دروازې مخې ته یو هندی ځوان پروت وو چې عورت یې ټول ښکاره کېدو.**

عرفان په خندا شو وېل شیخ صیب **هغه وګوره د دې سرې ټول سامان ښکارې.**

شیخ وېل ګوره **ما تا ته څو ورځې مخکې د رسول الله مبارک حدیث بیان نه کړ او درته و مې نه وېل چې د بل شخص او د مړي سامان ته به نه ګورئ ځکه چې رسول الله مبارک موږ له دې کار څخه منع کړي یو؟**

ما یو دسمال واخیست او د دې شخص پر ځان مې ور واچولو تر څو عورت یې پټ شي او بیا مې د هغه خواته له ناست شخص څخه وپوښتل چې په دې ځوان څه شوي او ولې بې هوشه پروت دی؟

نوموړي شخص وېل **دا په نانوایي کې کار کوي او نوی نوی یې دا کار شروع کړی او د تناره د اور تر څنګ به ولاړ وو او د ډېرې ګرمۍ په وجه بې هوشه شو.**

شیخ وېل ګوره داسې حالت په هر چا راځي او حتا رسول الله مبارک هم له داسې حالت څخه مستثنا نه وو او یوه ورځ هغه هم د ګرمۍ له وجې بې هوشه شو او صحابه کرامو بربنډ لیدلی وو.

عرفان وېل شیخ صیب **آیا رسول الله مبارک هم په نانوایي کې کار کولو او بې هوشه شوی وو؟**

شېخ وېل نه جاهل انسانه هغه د کعبې شریفې لپاره ډبرې وړلې چې بې هوشه شو او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف موږ ته بیان کړ:

**عَنْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَنْقُلُ مَعَهُمُ الْحِجَارَةَ لِلْكَعْبَةِ وَعَلَيْهِ إِزَارُهُ. فَقَالَ لَهُ الْعَبَّاسُ عَمُّهُ يَا ابْنَ أَخِي، لَوْ حَلَلْتَ إِزَارَكَ فَجَعَلْتَ عَلَى مَنْكِبَيْكَ دُونَ الْحِجَارَةِ. قَالَ «فَحَلَّهُ فَجَعَلَهُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ، فَسَقَطَ مَغْشِيًّا عَلَيْهِ، فَمَا رُئِيَ بَعْدَ ذَلِكَ عُرْيَانًا صلى الله عليه وسلم»**

**ژباړه: حضرت جابر رض** روایت کوي چې کله رسول الله ص د مکې له خلکو سره (یوځای) تیږې (ډبرې) د کعبې د جوړولو لپاره وړلې (نقل کولې) نو ازار (عربي لنگ) یې اغوستی وو. د رسول الله تره حضره عباس رض رسول الله ص ته وویل: اې زما وراره! (ستا لپاره به غوره وي) ته خپل ازار وباسه او په خپلو اوږو یې تر تیږو لاندې واچوه (معنا چې اوږې دې زخمي نشي) رسول الله ص خپل ازار و ایستلو او پر خپلو اوږو یې واچولو **مگر رسول الله مبارک بې هوښه شو او له هغه وروسته رسول الله ص بیا هېڅکله هم لوڅ (بربنډ) نه دی لیدل شوی.**

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري حديث (كتاب الصلاة - باب كَرَاهِيَةِ التَّعَرِّي فِي الصَّلاَةِ وَغَيْرِهَا) حديث ۳٦۴
- دویم ماخذ: صحيح البخاري حديث ۸ كتاب ۱٦ حديث
- درېیم ماخذ: صحيح البخاري انگليسي ۱ ټوک ۸ کتاب ۳٦۰حديث
- څلورم ماخذ: صحيح مسلم (كتاب الحيض - باب الاِعْتِنَاءِ بِحِفْظِ الْعَوْرَةِ) حديث ۳۴۰
- پنځم ماخذ: صحيح مسلم ۳ کتاب ۹۴ حديث

عرفان وېل شېخ صیب ښېښنه غواړم شیطان لعین ماته خندا راوستله کنه ما باید خندلي نه وی او نور بیا موږ بېرته جومات ته را ستانه شوو.

# د تبليغ اته دېرشمه



سهار له ناشتې وروسته زه بهر د جومات انګړ ته ووتم تر څو لږ تازه هوا تنفس کړم او څو شېبې وروسته عرفان هم راپسې راغئ.

عرفان ته مې وويل شېخ صيب څه شو؟

عرفان وويل **شېخ صيب د قران کريم تلاوت په خورا جګ اواز شروع کړی او چندان اواز يې هم نه دی نو ځکه زه ترې بهر راووتم،** دا خبره يې وکړه او عرفان وويل زه به ستا په اجازه اودس ماتي ته لاړ شم او سرې ولاړ.

لږ شېبه وروسته شېخ الحديث هم را ووتلو او زما خوا ته راغئ.

ما ووېل شېخ صيب ښه ښکلی تلاوت خو دې کولو.

وېل صديقه! تاته چا ووېل چې ما تلاوت کولو ځکه ته خو هغه وخت هلته نه وې چې کله ما تلاوت شروع کړ، وېل **دا خبر خو به ونې نه وي درکړی؟**

ما وېل **شېخ صيب دا څه ګډې وډې وايې ونو له کومه وخته خبرې شروع کړې چې دا خبره دې وکړه؟**

شېخ وېل د رسول الله ص په زمانه کې **ونو** او **کانو** اکثره اوقات له رسول اکرم ص سره خبرې کولې او له ډېرو کیسو به یې رسول الله مبارک خبرولو او بیا یې د رسول الله مبارک دغه حدیث شریف راته بیان کړ:

**حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ، عَنْ مَعْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ، سَأَلْتُ مَسْرُوقًا مَنْ آذَنَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بِالْجِنِّ لَيْلَةَ اسْتَمَعُوا الْقُرْآنَ. فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبُوكَ ـ يَعْنِي عَبْدَ اللَّهِ ـ أَنَّهُ آذَنَتْ بِهِمْ شَجَرَةٌ.**

**ژباړه:** له **معن بن عبدالرحمن** څخه روایت دی، ما له **مسروق** څخه وپوښتل چې رسول الله (ص) چا خبر کړ د هغې شپې په اړه چې پېریانو (جنیاتو) قرآن واورېد؟ هغه وویل ستا پلار عبدالرحمن راته وویل (خبر راکړ) چې **ونې رسول الله ته خبر ورکړی وو.**

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري (كتاب مناقب الأنصار - بَابُ ذِكْرُ الْجِنِّ) حديث ۳۸۵۹
- دویم ماخذ: صحيح البخاري ٦٣ کتاب ۸۵ حدیث
- درېیم ماخذ: صحيح البخاري انګلیسي ۵ ټوک ۵۸ کتاب ۱۹۹ حدیث
- څلورم ماخذ: صحيح مسلم (كتاب الصلاة - باب الْجَهْرِ بِالْقِرَاءَةِ فِي الصُّبْحِ وَالْقِرَاءَةِ عَلَى الْجِنِّ) ۴۵۰ حديث
- پنځم ماخذ: صحيح مسلم ۴ کتاب ۱۷۳ حدیث

عرفان هم په دې وخت کې بېرته راغئ او هغه چې دغه مبارک حدیث واورېد نو شیطان لعین غلبه ورباندې وکړه او سرې په خندا شو او همداسې له جوماته بهر ووتلو.

شېخ وېل **صدیقه دا عرفان لږ ګمراه شوی غوندې نه دی او دا عقیده یې په دې وروستیو کې خرابه شوې نه ده؟**

ما وېل شېخ صیب لږ نه بلکې بیخي ډېر ګمراه شوی خو څه وکړو چاره نه لرو او دا یو دوه ورځې د تبلیغ د چېلې پاتې دي نو مجبور یو چې حوصله ورته وکړو تر څو زموږ چپله په خیر او خوشالۍ سره پوره شي بیا تر کاله څوک مره څوک ژوندي.

# د تبلیغ نهه دېرشمه ورځ



پرون ماسپښنين زموږ د تبليغ يوه ملګري خپل کوچنی زوی جومات ته راوستی وو د جمعې د لمانځه لپاره، د جومات امام وېل صديقه صيب دا څومره ګلالی ماشوم دی او بيا يې ماشوم ته ورغږ کړل چې د ده خوا ته راشي.

ماشوم چې د امام صيب خوا ته راغئ نو **امام صيب ماشوم څو کرته په دا خوله خوله مچو کړ او بيا يې خپله ژبه د هغه په خوله کې ورکړه.**

شېخ ور غږ کړل وېل **دا څه کوې امام صيب دا ماشوم ناروغه کوې په دې کار او دا خپله ژبه دې ولې د ماشوم په خوله کې ورکړه؟**

امام صيب وېل ماته **د رسول الله مبارک حديث را ياد شو کوم چې هغه د حسن په خوله کې خپله مبارکه ژبه ورکړې وه** او ويل يې د رسول الله مبارک له ماشومانو سره بې ساري مينه مې سترګو ته و درېده.

شیخ وېل خبره دې سمه ده خو هغه د الله رسول وو او تاته لازمه نه ده چې د هغه هر عمل تکرار کړې ځکه ته پیغمبر نه یې او ډېر داسې کارونه دي چې یوازې پیغمبرانو ته یې اجازه شته او بس.

ما وېل شیخ صیب دا امام د څه شي په اړه خبرې کوي زما خو هېڅ سر خلاص نه شو.

شیخ وېل صدیقه! امام صیب د رسول الله مبارک دغه حدیث شریف ته اشاره کړې او بیا یې دا حدیث موږ ته بیان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ قَالَ: حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ نُعَيْمِ بْنِ الْمُجْمِرِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: مَا رَأَيْتُ حَسَنًا قَطُّ إِلاَّ فَاضَتْ عَيْنَايَ دُمُوعًا، وَذَلِكَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَرَجَ يَوْمًا، فَوَجَدَنِي فِي الْمَسْجِدِ، فَأَخَذَ بِيَدِي، فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ، فَمَا كَلَّمَنِي حَتَّى جِئْنَا سُوقَ بَنِي قَيْنُقَاعٍ، فَطَافَ فِيهِ وَنَظَرَ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَأَنَا مَعَهُ، حَتَّى جِئْنَا الْمَسْجِدَ، فَجَلَسَ فَاحْتَبَى ثُمَّ قَالَ: أَيْنَ لَكَاعٌ؟ ادْعُ لِي لَكَاعًا، فَجَاءَ حَسَنٌ يَشْتَدُّ فَوَقَعَ فِي حِجْرِهِ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي لِحْيَتِهِ، ثُمَّ جَعَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَفْتَحُ فَاهُ فَيُدْخِلُ فَاهُ فِي فِيهِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ، فَأَحْبِبْهُ، وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُ.**

📖 **ژباړه: حضرت ابو هریرة** رض روایت کوي چې ما هېڅکله حسن نه دی لیدلی پرته له دې چې سترګې مې له اوښکو ډکې شوي وي. هغه ځکه چې رسول الله ص یوه ورځ بهر ووتلو او ما یې په جومات کې ولید. هغه زما لاسونه ونیول او زه ورسره روان شوم. هغه تر هغو هېڅ خبرې ونه کړې تر څو چې موږ د بني قینقاع بازار (مارکېټ) ته ورسېدو. هغه وګرځېد او شاوخوا یې وکتل. بیا هغه روان شو او زه هم ورسره روان شوم تر هغو چې جومات را ورسېد. هغه مبارک کښیناست او ځان یې په جامو کې پټ کړ بیا یې وفرمایل هغه کوچنی چېرې دی؟ هغه کوچنی ماته راوله. حسن په منډه راغئ او غېږې ته یې ور ټوپ کړل. بیا یې خپل لاسونه د رسول الله مبارک په ږیره کې ووهل. **بیا رسول الله مبارک د هغه خوله خلاصه کړه او خپله مبارکه ژبه یې د هغه په خوله کې ورکړه.** بیا یې وفرمایل. یا الله زه ورسره مینه لرم، نو مینه ورسره لرم او له هغو سره چې مینه ورسره کوي.

📌 لومړی ماخذ: الأدب المفرد (باب الجلوس والاستلقاء) ۱ کتاب ۱۱۸۳ حدیث

📌 دویم ماخذ: : الأدب المفرد انګلیسي ۴۸ کتاب حدیث ۱۱۸۳

نبه وو چې د ماشوم د پلار امام صیب ته پام نشو کنه لویه لانجه به ترې جوړه شوې وی.

# د تبلیغ څلوېښتمه ورځ



نن سهار له ناشتې وروسته زه له عرفان او شېخ الحدیث سره بهر ووتم تر څو لږ پیاده روي وکړو، **په لاره کې یو هندو په مخه راغئ چې د غوا شاته ولاړ وو او د غوا متیازو ته یې ګیلاس نیولي وو او هغه یې داسې په خوند څښلې لکه د انګورو اوبه یا هم د روح افزا شربت.**

شېخ یې خوا ته ورغئ او ورته ویل یې **یق توو لانت پر تاسې جاهلانو دا د غوا متیازې ولې څښئ؟**

هندو وېل ایا دا **تاسې مسلمانان د اوښ میتازې نه څښئ چې موږ ته دا خبره کوئ؟**

ما ور غږ کړ **نه!** ما وېل زه خو یې ولا که په خوب کې لا وڅښم او موږ مسلمانان هېڅکله داسې ګنده او مردار خور کار نه کوو.

هندو وېل **ولې خپل حدیثونه مو هېر شوي چې دا خبره کوئ؟**

ما شېخ ته غږ کړ ما وېل دا د هندو بچی څه ګډې وډې وایي شېخ صیب **ایا په دې اړه په ریښتیا هم کوم حدیث شته چې موږ دې د اوښ متیازې وڅښو؟**

شېخ وېل **دغه جاهل هندو اوس دا مرداره او ناولې غوا له اوښانو سره برابروي؟**

له دې سره نور موږ ترې روان شوو ما وېل چې جنګ جوړ نشي، وروسته په لاره کې مې وېل شېخ صیب ایا د هغه هندو خبره رېښتیا ده؟

شېخ وېل هو صدیقه! په دې مورد ګڼ شمېر احادیث شته خو **د اوښ په میتازو کې الله پاک لویه شفا اچولې خو دا د جاهل بچی هندو اوس د غوا هغه مرداري متیازې د اوښ له متیازو سره برابروي** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف موږ ته بیان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، وَثَابِتٌ، وَقَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ نَاسًا، مِنْ عُرَيْنَةَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ فَاجْتَوَوْهَا فَبَعَثَهُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فِي إِبِلِ الصَّدَقَةِ وَقَالَ «اشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا»**

📖 **ژباړه: حضرت انس** رض روایت کوي چې ځینې خلک له **عرینه** څخه مدینې منورې ته راغلل او دوی د مدینې د موسم په وجه ناروغه شول. نو رسول الله مبارک هغوی ته یو څو اوښان د صدقې په توګه ور ولېږل او ورته وېې فرمایل: **د دې اوښانو شیدې او متیازې وڅښئ.**

- لومړی ماخذ: جامع ترمذي (كتاب الأطعمة عن رسول الله ص- باب مَا جَاءَ فِي شُرْبِ أَبْوَالِ الإِبِلِ) حدیث ۱۸۴۵
- دویم ماخذ: جامع ترمذي ۲۵ کتاب ۶۱ حدیث
- درېیم ماخذ: جامع ترمذي انګلیسي ۳ ټوک ۲۳ کتاب ۱۸۴۵ حدیث

شېخ وېل ورته واقعه په **صحیح بخاري (كتاب الطب - باب الدَّوَاءِ بِأَبْوَالِ الإِبِلِ) حدیث ٥٦٨٦** او **سنن ابن ماجه (كتاب الطب) ۳۱ کتاب ۳۶۳۲ حدیث** کې هم ذکر شوي.

عرفان ته مې وېل بچی ته ورشه یو د پیپسي بوتل راته راوړه څکه دا زړه مې داسې بد بد کیږي چې دا ولې؟

شېخ له خبرو وروسته جومات ته لاړ او ما چې کله د پیپسي بوتل وڅښلو نو وروسته بیا زه او عرفان هم جومات ته ورغلو.

## د تبليغ څلوېښتمه شپه (الوداع)



پرون ماښام چې کله د شیخ الحدیث په بیان زموږ ایمانونه تازه شول نو د تبلیغ په اخره ورځ شیخ خورا احساساتي وو او سترګې یې له اوښکو ډکې ډکې کېدې او په خورا ژړه غوندي اواز یې وویل ورونیو د الله پاک او نبي کریم صیب له برکته دا دی موږ خپله چېله پای ته ورسوله.

وېل دا د شکر ځای دی چې موږ په دې وتوانېدو چې په دغه څلوېښتو ورځو کې د خلکو ایمانونه او یقین د سهار د ګل په څېر تازه کړو او دا چې موږ خپلې ټولې کورنۍ د الله او د هغه د نبي رسول الله ص لپاره شاته پرې اېښې او صرف د اسلام د حقیقي دعوت لپاره راوتلي وو نو الله پاک به موږ ته د دې ټولو تکلیفونو اجرونه په هاغه دونیا راکوي.

بیا شیخ وېل موږ ډېر خوشبخته یو چې د خپلې چېلې په دوران کې مو لږ تر لږه څلوېښت احادیث تر خپل مسلمانانو ورونیو ور ورسول او بیا یې د څلوېښتو احادیث په اړه دغه مبارک حدیث راته بیان کړ:

📖 **مَن حَفِظَ عَلي اُمَّتِي اَربَعِينَ حَدِيثًا فِي اَمرِ دِينِهَا بَعَثَهُ اللهُ فَقِيهًا وَ كُنتُ لَه يَومَ القِيَامَةِ شَاهِدًا وَشَهِيدًا.**

📖 **ژباړه: څوک چې زما د امت د ديني ګټو دپاره څلوېښت حديثونه جمع کړي (راټول يا يي ياد کړي او نورو خلکو ته يي ورسوي)** الله تعالي به **هغه سرى د قيامت په ورځ فقيه راپورته کړي، زه به خپله د ده شفاعت وکړم او خپله به د هغه شاهد شم.**

ماخذ: رواه (ترمذي)

عرفان ویل شیخ صیب په دې حساب خو ستاسې، زما او د صدیق کاکا شفاعت گرنټي دی ځکه تر څلوېښتو څخه ډېر حدیثونه مو پروسږ کال تر خلکو ورسول او تر پنځوسو ډېر مو دا ځل او په دې توگه ټول ټال مو تر سلو ډېر صحیح او مستند احادیث تر خلکو رسولي او د خلکو ایمانونه مو پرې خړوب کړي.

شیخ ویل هغه خبره خو مو سمه ده خو بیا هم موږ ته پکار ده چې هره شېبه توبه او استغفار ووایو او وېل حتا رسول الله مبارک چې پیغمبر هم وو هر کله به چې وزگاره کېدو او بل کار به یې نه درلود نو د الله پاک دربار ته به یې توبې ایستلې او استغفار ویل به یې شروع کړل.

بیا یې د رسول الله مبارک دغه حدیث شریف موږ ته بیان کړ:

📖 **حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ «وَاللَّهِ إِنِّي لأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً»**

📖 **ژباړه:** له **حضرت ابو هریرة رض** څخه روایت دی چې له رسول الله مبارک څخه مې اورېدلي چې ویل یې **په الله قسم چې زه هره ورځ تر اویا ځله څخه ډېر استغفار وایم او توبه کوم.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري (کتاب الدعوات - باب اسْتِغْفَارِ النَّبِيِّ ص فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ) حدیث ٦٣٠٧
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۸۰ کتاب ۴ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انگلیسي ۸ ټوک ۷۵ کتاب ۳۱۹ حدیث

عرفان ویل شیخ صیب **آیا رسول الله مبارک ډېر گناهکار وو او ډېرې گناوې یې کړې وې که څنگه دومره زیاتې توبې یې ایستلې؟**

شیخ ویل چوپ شه گستاخه رسول الله مبارک له هر ډول گناهونو څخه پاک وو، وېل قسمت دې ښه دی چې زموږ د تبلیغ وروستۍ ورځ ده کنه زه به دې خوښ شوی وی.

خدای شته نن سهار چې له جوماته راوتم نو **ټولو راپسې ژړل** په تېره بیان عرفان او وېل داسې نامي تبلیغ موږ په ټول ژوند نه وو کړی.

**زموږ د گروپ تقریباً ټولو ویل چې ته ځې نو موږ هم نور په تبلیغ کې نه پاتې کېږو** او کوم چې له ما وروسته راغلي وو هغوی هم خپلې بسترې را واخیستې او خپلو کورونو ته روان شول.

ملګرو هیله ده چې د چیلې په دوران کې ستاسې ایمانونه تازه شوي وي او یو څو مبارک احادیث شریف مو زده کړي وي او مننه چې تر دا دمه مو زما ملتیا وکړه.

**و من الله توفیق**